کابل

ادبي، تاريخي او اجتماعي

Jan. Feb. 62

2 = JUN 22
Copy 1962

د پښتو ټولنې مياشتنۍ

خپرونه

۱۱

پرله پسې ګڼه: ۵۰۸

سلواغه (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال د ۱۹٦۳ کال جون او فروری

امتیاز: د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا الفت

مسؤول مدیر: محمد صدیق روهی

مهتمم: محمد مومن پټوال

لیك	لیکوال	مخ
سبك:	روهی	۱
د پښتو کلماتو...:	عبدالحی حبیبی	۷
په نوې ژبپوهنه ...:	تږی	۱۱
پښتانه لیکوال...:	د معتمد ترجمه	۵۱
تشریحی ژبپوهنه...:	محمد رحیم الهام	۲۷
د نشنلیزم سیر:...	حفیظ الله امین	۲۹
د دهقان لور:	قتیل	۳۵
لومړی گام:	د پښتو نمل ترجمه	۵۳

سبک

[۲]

داپلاتون په نظر شعریوه اسمانی تحفه ده اودفن اوقواعدوله لاري لاس ته نشی راتلای. هلته چه اپلاتون په خپل اثر (ایون) کښې دسو کرات له خولې خپلې خبرې کوی نوداسې وایی:

«سو کرات ... دغه موهبت چه ته دهومر (Homer) په باب دومره ښې خبرې کولی شې، فن نه دی بلکه لکه چه پخوا مې وویل یوالهام دی ته دلاهوت له خوا په حرکت راځې، لکه څنګه چه په هماغه کانی کښې چه یوریپدس یې مقناطیس بولی دغه لاهوتی قوه موجوده ده... دغه کانی نه یوا ځې دوسپنې ګوتې جذب کوی بلکه هغوته هم یوه داسې قوه ورښې چه نورې ګوتې ځانته را کاږی، او کله کله به ته یوشمېر کانی او ګوتې ووینې چه یوله بل نه ځوړنداو یوځنځیر یې تشکیل کړی وی او هغوتولو خپله قوه له اصلی کانی څخه اخیستی وی. په همدې ډول Muse(۱) د لو مړ ی ځل د پاره خپلو کسا نوته الهام ور کوی، اوله د غو کسانو څخه یوځوړ ند ځنځیر چه یوله بل نه الهام اخلی- منځ ته راځی. ټول ښه شاعران- حماسی وی که غنایی- خپل ښکلی نظمونه دفن له مخې نه ترتیبوی بلکه د الهام او برخې په مرسته یې جوړوی. کوم وخت چه کو ر ی بینتان (Corybantian) دعیا شی په وخت کښې نڅا کوی، عقل یې پرځا ی نه وی، همد ا رنګه کله چه غنایی شاعران دشعر ښکلی ټوټې جوړوی - فکر یې پخپل اصلی حالت کښې وا قع نه وی. اما کله چه دموسیقی اووزن ترقوې لاندې راشی هلته نود ا لهام خاوند ان کیږ ی، لکه د (Bacchic) مستې پېغلې کوم و خت چه د ډیو نیسوس (Dionysus) تر نفوذ لاندې

(۱) دشعراو ښکلو هنرونو آلهه(ر)

راشي له دریابو نوڅخه شات اوشیدې را با سی خو کله یې چه عقل په ځای وی نودا کارنشی کولی .اودغنایی شاعر روح لکه چه پخپله هم وایی ، دغه کار کوی . ځکه دوی وایی چه موږ خپلې سندرې دشاتوله فوارو څخه راوړو، دګلانو له باغو څخه یی را ټولوو اوله هغو کوچنیو دروڅخه خپلې سندرې را اخاوچیرته چه دښکلا اوهنر آلهه استوګنه کوی ، هغوی دمچیوپه شان په خپله لار کښې له یوه ګل نه دبل ګل - واته الوزی. اودا رښتیاده ځکه چه شاعر دوزرونو خاوند اویو عالی موجوددی . او دی ترهغو پورې ابتکار نشی کولی ترڅو چه الهام ورته نه وی شوی اوعقل او حواس یې زائل شوی نه وی. ترڅوپورې چه الهام ورته ونشی بې قوته وی 'وغیب اللسان کیدای نشی . ډېرې نجیبې کلمې شته چه شاعران دهغو په استعمالولو سره دخلکو دکړ وړو په باب خبرې کوی- خو کوم وخت چه هغوی دستاپه شان دهو مر په با ره کښې غږیږی - خپلې خبرې دهنر دقواعدولهٔ مخې نه کوی بلکه هغوی الهام اخلی اویواځې هغه څه وایی چه د شعر او هنر آلهه یې خولې ته ورولی . کوم وخت چه د وی ته الهام راشی یو به یې ښه غنا یی سندره جوړه کړی ، بل به یې مدح ووایی، ځینې به غبرګې سندرې جوړې کړی اوځینې به ښه حماسی شعرونه او بدلې ووایی ، اوڅوك چه دشعر په یوه ډول کښې مهارت لری په بل کښې یې نه لری ځکه چه شا عردفن پرا ساس غز ل نه جوړ وی بلکه دیوې لوړې قوې په وسیله لاربښوونه ورته کیږی:

چاچه د هنری قواعد وله مخې شعرویلی وی نوباید هرډول شعر وویلی شی . خدای له شا عرانو څخه عقل ا خلی ا و له هغو څخه رو حانیون جوړ وی لکه څنګه چه دخپلو استازیو او کاهنانو په برخه کښې همدغسې کار کوی . موږ چه دهغوی خبرې اورو باید وپوهیږو چه دوی په غیر شعوری ډول خبرې نه کوی- بلکه خدای پخپله وینا کوی اوخپل کلام دوی په وسیله پرموږ او روی .

او دکلسید ین ټینیکو س د دې خبرې داثبات لپاره- چه زه یې کوم - یو فوق العاده مثال راوړی: هغه هیڅکله داسې اثرونه لیکه چه یوا ځې دیا دونې د پاره لیکل شوی وی بلکه دده دبریالیتوب سندرې هغومره مشهورې وې، چه د هرچا په خوله کښې لویدلې وې ، دهغه نظمونه تر او سه پورې بې ساری دی، که په ساده ډول ووایو دادشعراوهنر دآلهې نظمونه دی- لکه چه دی پخپله هم دغسې و ایی . . .

څنګه ایونه! آیا زما خبرې درستې نه دی؟»

ښایی چه (ایون) به دخپل استاذ ټولې خبرې مثبتې ګڼلې او دمنلو سر به یې ورته خوځولی وی . له همدې ځایه و یلی شو چه د اپلا تون په نظریه هر تعبیر او هر مضمون سبك نشی لر لی بلکه کوم وخت چه تعبیر دحقیقت او ښکلا مثا ل وګرځی او کمال تـه ورسیږی نو هلته د سبك خاوند کیدای شی . د اپلا تون په ستر ګوهر فکر په خپل ذات او شکل کښې مکمل دی . کله چه یو فکر اساسی او اصلی بڼه ولری له هغې څخه سبك منځ ته راځی. فکر او شکل یو تر بله نه بیلیدونکی دی. هر تغییر چه په شکل کښې واردشی په جوهر باندې هم اثر کوی .

په نثر کښې سبك دجمال او حقیقت یو والی دی

په شعر کښې پخوا تر دې چه سبك ورته ووایو باید شاعرانه لیونتوب یا هیجان او الهام په کښې حاضر وی .

ایم. ارنولډ داپلاتون مفکوره هلته چه د مشهور شاعر ورډزو ر ث (Wordsworth) دسبك په باب غږیږی- داسې توضیح کوی: «داسې ښکاری لکه چه طبیعت پخپله...دده له لاسه قلم اخلی او دهغه دپاره پخپل ساده- لطیف او مؤ ثر قو ت ایکنه کوی.» همد غه داپلاتون نظریه ده چه وروستینو لیکوالو دهغې په اثر ځینی اصطلا حات لکه «دسبك نشتوالی» او داسې نور اختراع کړی دی. سبك له الهام او شهود سره تړ لی دی، هر وخت چه شهو د بیلیږی سبك هم له منځه ځی: یو کره کتونکی مونږ ته داسې تعبیرونه هم راښودلی شی چه سبك نه لری او «ادبی فنون» پکښې موجود وی. دسټانډال (Stendhal) تعریف «سبك دخپل فکر سره سره- پر هغو ټولو- حالاتو باندې مشتمل دی چه یو فکر هغو مره مئوثر واقع شی لکه څومره قوت او تأثیر چه په هماغه فکر کښې موجود دی.» همدغې مسألې ته اشاره کوی. «هغه تأثیر چه هما غه فکر یې باید ولری.» څنګه دی؟ د سبك پیژ ند نې دپاره د «معیار» طریقه تر ټولو غوره او ښه لارده. هر کله چه سبك پخپله جوهر او صفت دی، نو هغه د منطقی او تحلیلی عملیې په واسطه نشی پیژ ندل کیدای، بلکه ښایی چه مستقیماً د هغو شرائطو له مخې و کتل شی چه تر کومې اندا زې د صلاحیت لرونکو قضاو تو نو پـر روزل شـوو احسا ساتو باندې اغیزه ښند ی .

نقادان پر سبك باندې داسې قضاوت کوی چه ګویا هغې باید یو لړ تحسینو نه ګټلی وی، دخلکو له خوایې هر کلی شوی وی او هغه بیاد نورو لیکنو دپاره دمعیار په حیث وپیژ ندل شی .

امادازستود ښوونځی کره کتونکی سبك یوه عمومی اصطلاح ګڼی ، دهغوی له تصور سره سم سبك جوهر نه دی . بلکه دډیرو عناصرو محصول دی. هرڅومره چه لیکنې زیاتې دی- هماغومره سبکونه زیات دی. سبکونه په نوعیت او درجه کښې یو تر بله توپیر لری. هر سبك بیا په وړو وړو انواعو هم ویشل کیږی. په عمومی صورت لکه څنګه چه داخبره تجربې ته رسیدلې ده- سبکونه دمشترکو اوصافو له مخې په اووه ډوله دی چه هر ډول یې په جلاتو ګه معرفی کوو :

(۱)- دمصنف په نوم: ځینې سبکونه دمصنف- شاعر یا لیکونکی په نوم شهرت لری لکه دهومر سبك- دملټن سبك- دشکسپیر سبك- دډانته سبك- دخوشحال خان سبك- د حمید سبك دمنشی احمدجان سبك او داسې نور. یو پیاوړی او منلی لیکونکی ښایی دخپل کلم او دخپلو لیکنو دځینو خصوصیاتو له پلوه پر نورو لیکوالو داسې اغیزه وکړی چه نورد ده تقلید او پیښې وکړی او دهغه په نوم ځانته مکتب جوړ شی. دمثال په ډول سیسرونیانیزم د سیسرون د سبك پر تحسین او تقلید بناء دی او ښایی چه په اوسنی زمانه کښې هم ډیر کسان د دغه مکتب مقلد او پیرووی. دلیکونکی په نوم هغه وخت یو سبك شهرت موندلی شی چه پخپله لیکوال هم مبتکر او هم داوچتې درجې خاوند وی . ښایی کله کله یو له دغو اوصافو څخه هم بسنه وکړی چه یو سبك دې دلیکونکی په نامه مشهور شی .

(۲)- دوخت په نوم: ځینې سبکونه دوخت په نوم یادیږی لکه معاصر سبك- ترشکسپیر دمخه سبك- دلاتین ادبیاتو دطلایی دورې سبك .

هر کله چه د یوې خاصې تاریخی دورې لیکنې دهماغه زمانې له جریاناتو څخه متأثرې شوی وی او په هغو کښې دوخت غوښتنې له ورایه نارې وهی نو دغه ډول سبك دځینو تاریخی او اجتماعی شرائطو محصول ګڼل کیږی **او په حقیقت کښې ټول سبکونه د وخت دجریان مولود دی .**

وخت یو مجر دمفهوم نه دی ځکه په دې صورت کښې وخت پر هیڅ شی باندې تأثیر نشی کولی بلکه دشیانو او پیښو ترتیب دی چه دایماً تغییر خوری. دکوم مهم تغییر او نحول په ترڅ کښې چه یو ټاکلی سبك منځ ته راځی نو هغه دوخت په نوم یادوو . دسبکونو دمنځ ته را تلو علتونه باید د وخت دشرایطو په رڼا کښې مطالعه کړو - حتی دشاعر عندی (Subjective) حالات هم له وخت څخه مستغنی نه دی .

(۳)-هغه سبك چه د واسطې (Medium) څخه متأثر شوی وی- دهغې طریقې له مخې پیژندل کیږی لکه څنګه چه هماغه واسطې اغیزه پر کړی وی. یو اثر چه په جرمنی ژبه لیکل شوی وی هر ومرو دواسطې په لحاظ- له هغه سبك څخه چه په فرانسوی لیکل شوی وی- توپیر لری. اډوارډ سپیر وایی چه:

«ژبه دادبیاتو وسیله ده لکه مرمریا ژیړ یاختې چه دیوه مجسمه جوړوونکی موادی. که څه هم چه هره ژبه ځانته جلا ممیزات لری- خو دیوه ادب ذاتی او صوری محدودیتونه او امکانات هیڅکله هم عیناً دهغه بل ادب په شان نه دی. هغه ادب چه دیوې ژبې له شکل او ما دې څخه روغ شوی وی د خپل قالب رنګ او بافت لری. یو ادبی هنرمن ښایی هیڅکله هم له دې څخه مستشعر نه وی چه دغه قالب څنګه دده سره مرسته کړې ده یایې د ده مخه نیولې ده او یایې لاړښو ونه ورته کړې ده، مګر کله چه دده مضمون په بله ژبه اوړی- داصلې قالب طبیعت په ناڅاپی ډول خپل ځان ښکاره کوی. دیوه هنرمن دلیکنې تأثیر ... سره د هغه «نبوغ» چه په خپله ژبه کښې یې لری - بلې ژبې ته بې له تغییر او خسارې څخه نشی ورنقل کیدای.

نو له دې امله کروس (Croce) بالکل حق په جانب دی چه وایی:

(یو ادبی اثر هیڅکله هم نه شی ترجمه کیدای.)

سره له دې ادبیات کله کله په یوه حیرانوونکی قابلیت سره خپل ځان ترجمه کولی شی.»

سپیر له دې وروسته داسې نتیجه راوباسی چه «دادب په فن کښې دوه ډوله متمایزې هنری سطحې یو تر بله سره نغښتې دی: یو یې عمومی او نه ژبنی Non-linguistic هنر دی چه بې له کومې خسارې بلې ژبې ته ورنقل کیدای شی او بل یې مخصوصاً ژبنې هنر دی چه دانتقال وړ نه دی.»

زه غواړم چه دسپیر (Sapir) پورتنی خبرې په خپل ذوق تفسیر کړم. هغه دا که چیرې یو ادبی عبارت دیوه مشخص ثقافت په خم کښې رنګ شوی وی او دنورو ثقافتونو څخه په خپل قالب کښې توپیر ولری نو دلته دهغه مضمون انتقال ډیر اشکالات لری. او که مضمون دجهانی مشترك ثقافت پر بنیاد ولاړوی نو په ترجمه کښې یې لطف او ښکلا ته ضرر نه رسیږی. یا په بله ژبه لکه ځینی بوټی چه په یوه خاص چاپیریال کښې ترټاکلو شرایطو لاندې وده کوی کله چه یوه بل چاپیر ته یې وړو، مړاوی کیږی او خپله تازګی او ښکلا له لاسه ور کوی- مګر

ځینی نور بوټی چه له هر راز اقلیم سره مو افقه کوی - په هر ځای کښې چه وی بشکلی - تازه او تندرست وی (که څه هم داسې بو ټو ند رتاً پیدا کیږی .)

د ریاضی ژبه او علمی حقائق په هر ځای کښې خپل پیغام په یو د شان د هر چا غوږ ته رسوی. زموږ د اخبرې باید داسې تعبیر نشی چه ګویا ژبه په ډوه ډوله ده : ادبی او عامه یا داسې بل شی. ژبه په هر صورت کښې د ادب د پاره د اوه مو موادو په شان کار ور کوی . که هنر من راشی له دغو موادو څخه به ډیر بشکلی او قیمتی شیان جوړ کړی او که هنر من نه و - بنایی په عادی او ابتدایی ډول ترې کار واخستل شی .

د مثال پ ډول که موږ په پښتو ادب کښې د منشی احمد جان (ادم خان او د رخانی) ولولو هلته د لیکونکی مهارت د خوږو اصطلاحاتو او متلونو له استعمالو او څخه څر ګند یږی لکه: «په هغې کښې بې د کوزې باندې یو ادم خان ومی خانزاده باندې ستر ګې خوږې شوې «تپ له دواړه لاسه خیژی» هغه هم پرې باندې زړه بایلود. دې اور دا ې لمبه و کړه چه دواده خلاصیدو او د میلمنو رخصتیدو نه پس دو اړو په لار کښې هر د مرو یو بل ته په غلا غلا کتل. ماسخوتن چه ادم خان یوه ګوته د رباب و د هلو نو یو سوړ او سیلی یې و کړ او میرو - بلو خپلو خوږو یارانو ته یې د زړه حال ووی د هغه د امر ادو چه په دې شپه د لښکر د یدن ته لاړی. پر دو کو رو نو ته تلل د رخالصې دل نه و ولې میرو - بلو ورته د حلال کړی چرګان د وو... د رخو تار په تار په پالنګ او د ه پر ته و... ده یو ساعت په غټو ستر ګو ورته کتل چه ښه زور زیر یې وو یست... هسې نه چه شرمینګی جوړ شی او د اوښ په شا مو سپی و نه خوری . . »

دا پورته عبارت که تحت اللفظی په بله ژبه ترجمه شی نه یو اځی دا چه خپل ا بی مزیت او بشکلا یا یلی بلکه بنایی ټو کې او مسخرې ترې جوړې شی. ځکه چه ژبه او ثقافت لکه د یوې سکې دو ه مخو نه دی - ژ به له ثقافت سره تړلې ده او ثقافتو نه هم د ژ بو په څیر بو تر بله فرق لری. په دو و ژبو کښې یو اځې الفاظ بو تر بله تو پیر نه لری بلکه هغو کښې د اصطلاحاتو د جملو د ترکیب او ثقافتو نو اختلاف هم پروت دی.

(نور بیا)

عبدالحی حبیبی

د پښتو کلماتو لېږدنه او اووښتنه

ژبه د انسان د ژوند سره یو ځای پیدا شوې او د اجتماعي او تاریخي اووښتنو (تحولاتو) سره اوړي او تغییر کوي، او د طبیعت ترهغو احکامو او قوانینو لاندې ده، لکه د انسان د ژوند نور مظاهر چې دي.

د انسانانو د ټولنو لېږدونه (مهاجرتونه) له یو ې مځکې څخه بلې ځیمې ته له ډېره قدیمه شروع شوي دي، او په منځنۍ آسیا کې دغه تګ اوراتګ تر تاریخ د مخه لاهم لیدل کیږي، یو انسانی ټولنې چې له یوه ځایه بل ځای ته کوچ کوي، نو د دوی آثار او علائم لکه د دوی سره چې ځي، دغسې ئې هم بقا یا په هغه اصلي (تون) کې پاتیږي، او دغه فطري قانون دی، چې د دوی ژبې او دودونه او اجتماعي رشې او وراثې هم د چاپېر (محیط) د اووښتلو سره وړاړوي!

مثلاً: کوم وخت چې آریائي اقوام د هندو کش له لمنو او د پښتونخوا د سیمو او اورشو ګانو څخه شرق او غرب ته ولاړل، نو د دوی ژبه د هند په سیمو کې په ویدي لهجو او میا په سنسکریت او نورو پراکرېتو و اوښته، او په غرب کې میدي او زړه پارسو ځنې جوړه شوه، او په دغو ځایو کې د اوستا ژبه له هغې پخوانۍ آریائي ژبې څخه وزېږېده.

پښتو خو پخوانۍ بخدي = بخدو = پختو = پښتو یعنې باختري ژبه ده، چې همدلته په دغو غرو او رغو کې تر اوسه پاتې ده.

او د پخوانو آریائیانو د زړو مواریثو نمایندګي کوي.

دا ژبه خو آریائي ژبه ده، مګر لکه ځینو پوهانو چې ویلي دي، له هندي څانګې څخه نه ده، او هم نه له ایراني څانګې ده، ځکه چې پښتو په اصواتو او کلماتو او ګرامر او نورو ژبنیو خصائصو کې هم د سنسکریت سره ځینې مشترکات لري، او هم د اوستا او فرس قدیم او پهلوي او حتی سغدي او ختني سره!

سړي چې دې عمومي اشتراك ته ګوري نو د علمي موازینو سره برابر داسې وېلای شي، چې بخدو = پښتو د بخدي د سیمو هغه ژبه ده، چې د نورو آریائي ژبو د اتصال کړي ګڼله کېږي،

او د سنسکریت او فرس قدیم او اوستا اوسغدی او نورو پخوانو ژبو دربط او اتصال حلقه هم په پښتو کلماتو کې موندله کېږی. او یو ښکاره مثال ئې د (غر) کلمه ده چې په سنسکریت او اوستا او زړه پارسو او شمالی پهلوی او نورو لهجو کې پوره دښې لري، او اصل ئې په پښتو کې هم د غره د ګاري په ډول ټینګ او ثابت پاتې دی؟

د پښتو څخه کلمات او الفاظ شاو خوا ځغستلی دی، نو ځکه موږ ګورو، چې د الفاظو او کلماتو مهاجرت د پښتنو کوچیانو په شان له قدیمه شرق او غرب او شمال او جنوب ته موجود دی؟

دا لېږد او کوچ په مختلفو زمانو کې واقع شوی دی، او ډېر پخوانی کوچ هغه دی، چې ځینې الفاظ او کلمات د آریائیانو د لومړی مهاجرته سره هند او پارس ته تللی دی، او په ویدی او سنسکریت اوزړې پارسو کې ګډ شوی دی.

کلمات هم لکه انسانان د نوی محیط سره تغییر کوی، معانی ئې لږ څه اوړی، او شکلونه ئې د هغه چاپېر سره ځان برابروی، یعنې لکه پخپله انسان په تاوده محیط کې تودېږی او په ساړه چاپېر کې سپینیږی او کړه وړه ئې لږ څه بل شا نتې کیږی.

دلته نو د ژبپوهنې پوهان مطالعه کوی او د هر لغت اصلی شکل اوریښه پیدا کوی، او پر علمی اصولو برابر د لغاتو اصالت معلوموی، او د تحول مراتب ئې تاکی، او د لېږدنې او مهاجرت لارې ئې څاړی.

د چاپېر سره سمون (تطابق با محیط) چې په انګریزی ئې Adaptatian بولی، ځینې قوانین لری، چې پر کائناتو باندې پوره تطبیق کېدای شی، نوږ به هم یو کائناتی مظهر دی، او د فطرت تر دغو اصولو لاندې تل او ښتو نکې او نوی رنګ قبولونکې ده.

دغه کلمات او الفاظ چې اوس ئې موږ پخپلو خبرو کې وایو، هر یو بېله نسب نامه لری، او د هر چاپېر د اوتیا و سره سم ئې تغییر موندلی او موږ ته پارسېدلی دی.

د پښتو پر کلماتو هم دغه فطری او کائناتی قوانین جاری دی، او هره کلمه موږ ته د خپل تحول تاریخی د استان د حال په ژبه وائی. چې دلته زه د یوڅو کلمو کیفیت نمونې په ډول لیکم:

دعربو په علمی فلکی اصطلاحاتو کې (اوج) دلوړ تیا نهائی نقطه ده Climax، چې په پارسی کې (اوګ) بلله (مفاتیح العلوم ص ۱۰۷)

دد ې کلمې شکل په سنسکریت کې (اوچ) وو (تعلقات هند وعرب ص۱٤۲) چې په پارسی ادب کې هم « اوج کمال» مروج دی ، او په پښتو کې ددې کلماتو اصل «اوچت » دی .

بل مثال : په پښتو کې (بټه) نرمو پخو وریجوته وایو، دا کلمه دسندپه وادی کې په (بهات) تبدیل شوه،خوزپښتونخواله خواعربی ته هم ولاړه اوعر بوله دې کلمې څخه(بهطه) جوړه کړه. (مفاتیح العلوم ص ۱۷۷) .

بل مثال: دد ریم هجری قرن په آخر کې بزرگ بن شهریاریوپارسی کښتی وان دهند په جنوبی ښارصیمو ر کې ولیدل ،چې ددغه ښارراجه دمسلمانانو داداري لپاره یومسلمان مشرمقرر کړی و ، اوداسړی یې « هنرمن » باله (عجایب الهند ص ۱٤٤ ، مروج الذ هب ۲ر۸۵) دالقب دپښتو هنرمن دی ، چې عر بو له دغه څخه یومصد ر (هرمنه) هم جوړ کړ، او دپښتودغې کلمی په کوچ او هجرت کې داسې شکل وموند .

بل مثال: مسعودی دعربو مؤرخ اوسیاح په ۳۰٤ھ په دغه هندی ښار صیمور کې واروپدل چې لس زره عرب په هندوستان کې پیداشوی اوهلته ساکن وو ،او دوی یې (بیاسره) بلل (مروج الذهب ۲ر۸۵) دا کلمه هم پښتو ښکاری چې اوسنی املایې (بې اسره) ده، اومعنا ئې هم بېچاره اوغریب اومسافرده،اوعر بودا کلمه معربه کړه او یوځای یې (بیاسره) نوشته کړه .

داد کلماتود لیږ داو اوښتنې یوڅونمونې وې،چې تاسې ته وړاندې شوې، اوله دغوڅخه دالفاظو د کوچ اوتغییر اشکال موږ لید لای شوای .

ځینې کلمات په ثانوی شکل کې اصل ته نزدې وی،لکه بټه= بهطه یابې اسره بیا سره. دد ې کلما تو د تحو ل اشکال پیدا کول آسان کاردی، مگر ځینې کلمات په در یمه اوڅلورمه مرحله کې داسې شکل مومی ، چې داصل موندنه یې مشکله شی . مثلا هر منه- هنرمنی یالکه د گرم معرب شکل چې جرم شو، او دسر دمعرب صر د شو، اوجمع یې جروم او صرود شوه ، اوله دغه څخه بیا جرمنه او صرمنه مصادر جوړ شوه .

یامثلا دپښتویخ تېرچې وروسته اخترشو، او دا کلمه په آر یایې انگریزی ژ به کې د(ایستر) په شکل موجوده ده، چې دیخ موسم دتېرېدو جشن دی داپریل په میا شت کې .

اوس نودایستردغه نسب نا مه موندل اوباور کول هم اسان کار نه دی .

ځینې خلك د کلماتو اصل ته نه ګوری او بې له تحقیقه حکم کوی، چې دا کلمه په عربی یاهندی ژبو کې شته نو ځکه پښتو یا پارسی فه ده مګر عربو د خپلې ژبې مستعمل کلمات په خاصو کتابو کې څېړلی او پردی د خیل یا معرب کلمات یې تا کلی دی، چې ځنې دغسې کلمات حتی په قرآن شریف کې هم شته. او سیوطی په اتقان کې بیان کړی، او جوالیقی په المعرب کې ډېر داسې معربات ښوولی دی. دفیلالوژی نوی تحقیقات د پوهانو له خوا پر علمی اصولو سم ډېر حقایق موږ ته راښیی، چې د کلماتو تاریخچه ځنې ښکاری . او که فرصت وی، نو زه به په آینده کې داسې نور مثالونه هم خپلو ښاغلیو لوستونکو ته وړاندې کړم .

حبیب الله تږی

په نوې ژب پوهنه کښې
دلرغونی افغانستان برخه

څنګه چه سړی دژبې ده طالعې تاریخچه په څه غورسره وګوری ـ داحقیقت ډیرژرورته څرګندیدلای شی چه دژبې ډیره پخه اواساسی مطالعه ـ دلومړی ځل دپاره ـ دلرغونی افغانستان (آریانا) په شرقی سیمه کښې دهغه وخت دیوه ډیرستر (ژبپوهان) له خواشروع شوې ده .

داسترژبپوهان «پاڼینی» ؤچه یې د(۳۵۰ـ ۲۵۰ ـ ق.م) په شاوخوا کښې د«اټک» د سیند په غاړه ژوند کاوه او دسنسکریت ژبې ګرامریې په ډیر استاد انه ډول ولیکه.

«داګرامر دبشر دپوهنې دتاریخی یادګارونو څخه یو ډیرستر یادګاردی او په دغه وخت کښې هیڅ یوه ژبه هم په دې مهارت نه ده تشریح شوې» دننیو ډیرو ستر و ژبپو ها نو په عقید ه د غه ګرامر «یوسوچه تشریحی اوغیرفلسفی ګرامر دی چه تراوسه پورې دژ بو په تشریحی ګرامرونو کښې یو ډیرعالی ګرامر ګڼل کیږی. » (۱)

اماله بده مرغه چه دپاڼینی دغه ستر کار اود ژبې دمطالعې شهکارهم د زما نې باد دشر قی نړۍ دډیرو نورو ګرانولا لونو په څیر دنسیان ترایرولاندې پټوی او پټه خزانه ګرځی. حتی داسې چه دپاڼینی دتاټوبی په شاو خوا سیمو او پخپله آریانا کښې هم دغه دژبې دمطالعې کره اوتجربی ډول عنعنه نه ګرځی . بلکه د لته هم وروسته دخارجی تأثیراتو دقوی کیدلو څخه دپرد یومیتودونو په پیروی د ژبې تقلیدی او «نظری» مطالعه ورووروو، رواجیږی او په پای کښې

خبر دې حد ته رسیږی چه یو تن معا صر لیکوال همداسې کال په کابل مجله کښې لیکی:
«دیرش کاله مخکښې موږ ته لاداخبره هم نه وه سپینه چه ـ کتاب داحمد ـ سمه محاوره ده که ـ داحمد کتاب ـ»

له دې اوله داسې نورو ډیرو زیاتومثالونو نه څرګندیږی چه وروسته ترپاڼینی څخه دلته هم دژبې مطالعه په «منطقی » اوفلسفی رنګونو

(۱) امادپاڼینی په زمانه کښې دغربی نړۍ په فرهنګی مرکز یعنې یونان کښې د ژبې مطالعې رټ فلسفی رنګ لاره چه مثال یې موږ ته دافلا طون «کریټا یلس» Cratylus نومی اثر په واسطه راسیدلې د ی . پدې کتاب کښې دژبې داصالت په باره کښې دا سوال څیړل کیږی چه وشه دیوشی او دهغه دنامه ترمنځ رابطه ضروری اوطبیعی ده او که قرار دادی.

رنګیزی اور ته تقلیدی او نظری بهه غوره کوی. ځکه کله که خبره داسې نه وی او ژبه دتجربې اومشاهدې په اساس تشریح شوی او پښتو ژبه په خپله د پښتو په حیث مطالعه شوې وی هلته به نو بیا هیڅکله هم داسوال منځ ته نه وی راغلی چه «کتاب داحمد» سمه محاوره ده او که «داحمد کتاب» ځکه د تجربی، مطالعې او تشریح له مخې د پورته پوښتنې ځواب ډیر اسانه او هغه دادی چه پښتون څنګه وایی؟ «داحمد کتاب» او که «کتاب داحمد.» که داوایی داسمه محاوره ده او که هغه وایی هغه.

په همدې ترتیب دژبې مطالعه ورو سته ترپاڼینی څخه په شرق او غرب کښې دتیوری او تقلید په اساس روانیږی او ترننه پورې هم لا په عمومی ډول سره همدا بهه لری.

اما باید وویل شی چه وروسته درنسانس او بحری اکتشافاتو څخه نړۍ پرهاخپل پخوانی شکل نه پاتې کیږی. بلکه دلرغونې نړۍ دنقشې رنګ بدلیږی. له یوې وچې نه بلې اوله یوه هیواد څخه بل ته تګ راتګ ورځ په ورځ زیاتیږی. په تیره بیا استعمار چیان دخپلو استعماری اغراضو او ناپاکو هیلو د ترسره کولو دپاره په ډېره بیړه په یوه اوبله بهه امریکا او افریقا ته ورننوزی.

هلته د دغو وچو ځایی ژبو سره اشنا کیږی او دګرامرونو او قاموسونو په لیکلو پیل کوی. امادوی دغه کارهم اساسی نه بلکه رته عنعنوی بهه لری. اما په پای کښې استعمارچیان د خپلو استعماری الوځلو په سلسله کښې اسیا او په اسیا کښې هندوستان ته هم ورننوزی او په کښې ځای نیسی. همدلته په هندوستان کښې ده چه دپاڼینی ګرامر دغربی څېړونکو ګوتوته ورځی او په شپاړسمه او اولسمه پیړۍ کښې نوموړی کتاب اروپاته رسیږی. په تلسمه پیړۍ کښې ځینې انګریزی سنسکریت پوهان خپل کره راپورونه په دې برخه کښې ترتیبوی او دنولسمې پیړۍ په شاوخوا کښې سنسکریت پیژندنه داروپایی پوهانو دمطالعاتو جزء ګرځی. دهمدې مطالعاتو په نتیجه کښې دپاڼینی ګرامر- دلومړی ځل دپاره- داروپایانو سترګې دیوې ژبې دداسې کره تشریح سره اشنا کوی چه پرمشاهده بناوه نه پر تیوری. داتشریح اروپایانو ته دا درس ورکوی چه باید ژبه دشکل له مخې مطالعه کړی شی. برسیره پر دې دهغه مشابهت له مخې چه یې پوهان دسنسکریت او اروپایی ژبو ترمنځ وینی دژبو د مقایسوی مطالعې فکرهم ورسره پیدا کیږی. اما باید وویل شی چه په لومړی سر کښې دسنسکریت

اواروپایی ژبو سره پرتله کولو نتیجه هم رټ، افراطی اوله همدې امله منحرفه وه. ځکه ددغې مقایسې سره سم دافکر منځ ته راغی چه ټولې اروپایی ژبې له سنسکریت څخه راوتلی دی. مګر له ښه مرغه چه ددې غلط فکر عمر هم ډیر اوږدنه و. بلکه وروسته دیوڅه ژورو څېړنو څخه پوهانو ډیر ژر داخبره ومنله چه «سنسکریت اویونانی او لاتین درې واړه ژبې له یوې مشترکې ماقبل التاریخ ژبې څخه راوتلی دی چه اوس هغه ژبه پخپله نشته.»

دافکر دلومړی ځل دپاره دسر ویلیم جونز Sir William Jones (۱۷۴۶-۱۷۹۴) له خوا تشریح شو.

«جونز په خپلې هغې وینا کښې چه یې په ۱۷۸۶ع کښې وکړه دهند واروپایی ژبو دیوې سترې کورنۍ دموجودیت امکان چه یونانی- لاتین- سنسکریت- جرمنی اوسلیټی څانګې واړه په هغې پورې اړه لری- څرګند کړ. په ده پسې سم باپ Bopp را سمس راسک RasmusRask ګرم Grimm او پاټ Pott دنولسمې پیړۍ په سر کښې دافکر تعقیب کړ» اود هندواروپایی ژبود مقایسې هغه قانون رامنځ ته شوچه د «ګرم» د قانون په نامه مشهوردی.»

په نتیجه کښې دهندواروپایی ژبو تاریخی اومقایسوی مطالعې داروپاپه ساینس کښې ډیر او چت ځای ونیو اوپه دې ترتیب د پاڼیڼی دګرامر دسرله برکته او د ځینو سترو پوهانو په زیار هغه مقایسوی ژب پوهنه رامنځ ته شوه چه دنوې ژب پوهنې دانکشاف اساس ګڼل کیږی.

همدا داروپایی ژبو تاریخی او مقایسوی مطالعه وه چه ترلومړی عمومی جګړې نه وروسته بیا د پاڼیڼی ټاټوبی (اریانا) ته راورسیده او د لته یې د «فلالوژی» په نامه هغه رنګ غوره کړه چه زه یې «زموږ او سنۍ ژب پوهنه» بولم.

اما دا چه زموږ او سنۍ ژب پوهنه یعنې څه؟ په دې به زه کوم بل وخت په مفصل ډول سره وږغیږم اما دلته هم دومره باید ووایم چه موږ له یوې خوا همدا دژبې مقایسوی مطالعه د ځینو عجیبو مسائلو سره ګډه اوله بلې خوا د فلالوژی تعبیر تر همدې وروستیو کلونو پورې په داسې یوه محدوده ساحه. کښې پاتې شو- اوپه عمومی ډول سره لا هم پاتې دی - چه یا خو فقط د لرغونی یونان اټیمولوجی

Etymology ته پاتې کیږی (۱) او یا فقط یو لړ کلمې ـ هغه هم تر ډیره زیاته حده پورې دحد سیاتو په زور ـ یوه په بله کښې ننه ایستل کیږی او د مور اولور یا وړې او زړې حکمونه پرې کیږی.

اما دژبې هغه وسیعه او سستهماتیکی مطالعه چه اوس «نوې ژب پوهنه» بلل کیږی او همدې د لوی افغانستان دیوه ستر ژبپوهان (پاڼیڼی) داثر په برکت منځ ته راغله په خپله اصلی بڼه موږ ته تر اوسه هم راونه رسیده.

موږ تر همدې آوا خر و پورې هم د فونټکس Phonetics د هغې علمی مطالعې سره چه دنولسمې پیړۍ په منځ کښې شروع شوه په اساسی ډول سره بلد نه شوو.

د غسې هم تر همدې شپوور ځوپورې دژبې دمطالعې او اساسی تحلیل دهغه مهم انکشاف څخه ناخبره غوندې ښکاروچه پوهان یې دفونیم Phoneme اصل بولی او د لومړی ځل دپاره دنولسمې پیړۍ په پای کښې د شوروی اتحاد دیوه ډیر ستر ژبپوهان باندون ډی کورټینی Baundouin de Courtenay او دهغه د شاګرد کرژیوسکی Kruszewski (۱۸۸۱ع) له خوارامنځ ته شو او بیایې د «پراګ» په حلقه کښې انکشاف وکړ.

په همدې ترتیب د «نوې ژب پوهنې» او دژبې د مطالعې د ډیرو نورو هغو انکشافاتو څخه هم تر اوسه لا تقریباً ناخبره پاتې یو چه په نړۍ کښې د دغه علم په برخه شوی دی او زموږ ځینې ځوان لیکوالان همدا اوس غواړی چه د نوې ژبپوهنې د ډیرو مبتدی شاګردانو په حیث د ترجمو او تالیفاتو له لارې خپل محیط ورسره بلد کړی. هیله ده چه دا کار به د همدې ځوانو شاګردانو او زموږ دمجربو څیړونکو په مرسته په پوره ګړندی توب پرمخ ولاړ او د پاڼیڼی روح به بیا را ژوندی شی.

نوټ: په دې مضمون کښې کومې خبرې چه په قوسینو کښې نیول شوی هغه مستقیماً د دې لاندې آثارو څخه را اخستل شوی دی او هم ګران لوستونکی کولای شی چه په دې برخه کښې دمفصلو معلوماتو او دژبې دمطالعې دتاریخچې د کتلو دپاره دغو ماءخذونه مراجعه وکړی:

The study of Language.
by
John B. Carroll. P15-23
Language by Leonard Bloomfield P.3-20

(۱) په لرغو یې یونان کښې یوه ډله څیړونکی وو چه دانالوجستانو analogists په نامه یادیدل او دوی په دې عقیده ووچه دهرشی معنا پخپله دهغه شی دنامه دشکل دتجزیې څخه څرګندیدلای شی او دا ځکه چه دوی دلفظ او معنا ترمنځ رابطه طبیعی ګڼله.
مثلاً ویل یې چه د «شین طوطی» معنا خپله دکلمې له تجزیې څخه څرګندیدیلای شی یعنی کله چه دا کلمه تجزیه شی نو معنا یې هغه طوطی کیږی چه شنه بڼه لری.
د دوی دغه دمطالعې ډول اټیمولوجی بلل کیده.

لیکو نکی: گ،ف، گیرس

دروسی څخه مترجم : معتمدشنواری کره کتنه

پښتانه لیکوال د نورو په نظر کښې

ښاغلی بینوا

عبدالرؤف «بینوا» دافغانستان په دوایرو کښې یو ښکاره مقام اشغال کړی دی، دی دافغانستان دپیرو لویو مستعد ولیکوالو اومعاصرو پوهانو څخه شمیرل کیږی، دمنورې طبقې په منځ کښې خوراستر حیثیت اولوی اعتبار لری او د پښتو ادبیاتو په وسعت او پراختیایې ډیر تاثیر اچولې دی.

بینوا په ۱۹۱۳ ع کال کښې په کندهار کښې پیداشوی دی او په خټه دلویدیزو پښتنو دعلی زیو دقوم څخه دی چه داقوم بیاددرانیو په ګروپ ورګډیږی. دده پلار ملا عبدالله یو عالم سړی و اوروحانی شخصیت یې درلود، بینوا په خپل ښار کښې تحصیل کړی دی او همدغه ځای کښې ده په ادبی فعالیت لاس پوری کړ. د ۱۹۳٤ ع کال څخه راپه دې خوا ددده داشعارو سلسله په خپل محلی اخبار (طلوع افغان) کښې شروع شوه، دده نورو اکثرو لیکوالو غوندې لومړی په لنډو لنډو شعرونو پیلو کړ او لاهمدغو لومړنیو آثارو ئې دلوستونکو توجه ځانته جلب کړه او بی تاثیره او عادی نه وو - لوستونکو ته د بینوا د کلام لطافت اوخوږ والی خوند ورکاوه هغه لطافت چه دیو هنرمند په حیث دده طبیعت ګرځیدلی دی.

په ۱۹۳۹ ع کال کښې بینوا مرکز ته راغی اوسمد لاسه دادبی ژوند په ډنډ ورګډ شو - او په دغه وخت کښې لکه چه ښکاره ده په کابل

کښې یو محسوس جوش اوخروش روان و ، په مرکزی مطبوعاتو کښې په پښتو ژبه هنری آثار چاپیدل . پښتو اکاډمی په پښتو نثر کښې دښوړ رامو ـ ترجمو او هنری اوطبیعی آثارو دپاره کانکور او مسابقه جاری کړی وه اود پردیو لغاتو نه دپښتو د تصفیې دپاره کلکه مجادله شروع وه ، بینوا په لومړی وخت کښې دشعر سره خپله وفاداری و ساتله او اشعار به ئې د کابل په مجله کښې چاپیدل ـــ مګر وروسته ورو سته دده دد لچسپی دایره وسیعه او براخه کیدله اودمعاصرو جریاناتو دپیروی نه علاوه دپښتو تصفیې ته یی هم ملا وتړله .

په ۱۹٤۰ ع کال کښې بینوا یو کتاب چه (ادبی وړانګه) نومیږی ولیکه، دا کتاب تر اوسه چاپ شوی نه دی مګر ځینی برخې یې ممکن (په ادبی فنون) نومی کتاب کښې ور داخلې شوې وی .

بینوا دپښتو ګرامر سره پوره علاقه او دلچسپی لری او په هغو درسی کتابونو کښې چه دماه ورینو د کورسو دپاره جوړیدل ده په کښې حصه اخستې ده او دریم او څلورم سمستر مؤلف دی، ده په دریم سمستر کښې یو څو داسی نثری پارچې راوړې دی چه هغه دسو چه پښتو په سبک لیکلی شوې دی. بینوا لوستونکوته اخطار ورکړی دی چه په دې آثارو کښې یوازې پښتو توری دی او دپردی ژبې یوه کلمه هم نه شی ءپه کښې موندلی.

پورتنی کار یعنی دپښتو دتصفیې دپاره مبارزه اوحرکت یوداسې کار دی چه په حقیقت کښې لیکوال دضروری کارونو او دو خت د مسایلو نه یوې بلې خواته سوق کوی.

بینوا یووړو کی اثر (بنه شپه) هم په همدې روح لیکلی دی. ده په دې مضمون کښې یې دطبیعی بنکلا ستاینه کړې او د یو نیکمرغه او مسعود خاندان ژوندیې ور کښې تمثیل کړی دی.

د پښتو په درسی کتابونو کښې دبینوا اخلاقی مضامین هم چاپ شوی دی، ده په یوه سمستر کښې یو مضمون (په ځان ویسا) چاپ کړی دی. په دې مضمون کښې دی لیکی چه باید هر سړی په ځان ویسا او باور ولری او خصوصاً بیا پښتانه. دی یوه قصه دیوه خارجی سیاح له خولې لیکی چه ماسره په کښتی کښې دپښتنو یوه کورنی ناسته وه کشتی په خطر کښې شوه او د خطر زنګ و وهل شو. د کښتی ټول مسافرین او سیاحین په تزلزل او پریشانی کښې شول او ټولو خپل معنویات بایلو دل مګر دغه پښتنه کورنی هیڅ وار خطا نه شوه او نه یې دخولې ځنې دنورو غوندې چغې او فریاد وخوت، سیاح وایی ما چه داحال ولید نو د پښتنو په قوی روح زما زیاته عقیده راغله .

بینوا د پښتو په سمسترونو کښې ځینې لطیفې وړې وړې ټوکې او په زړه پورې خندنی مضمونو ته هم لیکلی دی. مثلاً په یو ځای کښې لیکی چه دیو ې ادارې مدیر د تیلفون متخصص ته خبرور کړ چه راشی او دده تیلفون چه بالکل خراب شوی دی ورجوړ کړی- مدیر صاحب په دفتر کښې ناست دی چه گوری یو مامور چه ښه لباس لری دده دفتر ته ورننوت- مدیر صاحب د دې دپاره چه خپل ځان دې مامور ته فعال او کارکن ورمعرفی کړی نو پخواله دېنه چه دده څخه پوښتنه وکړی چه څنگه راغلی یې او څوك دې پکار دی. تیلفون یی واخیست او په زوره وایی:

کیبل مرکز را! دپنځو ثانیو چپوالی څخه وروسته: رئیس صاحب یې؟: السلام علیکم صحت مو څنگه دی؟ پنځه مقالې خو می د رلیږ لې دی او دادی دوه می نورې هم لیکلې دی. یوه دانیس او بله د اصلاح دپاره- دا به هم ماز دیگر دروړم او بله دا چه یو کتاب مې دانگلیسی څخه په فارسی ترجمه کړی دی. بلې- بلې- تاسې ډیر مهربان یاست او دزړه له کومې تشکر کوم د تیلفون غوږ ی ږدی او مخ مامور ته ور اړوی چه څوك دې په کار دی؟ هغه وایی زه تیلفونی یم او راغلی یم چه تلیفون درجوړ کړم- په دې وخت کښې مدیر صاحب ته بې دخجالت څخه بل شی نه پاتې کیږی.

بینوا په پښتو سمسترو کښې د پښتو نخوا ځینی فعال او تاریخی اشخاص لکه خوشحال خان میرویس خان نیکه- عبد القادر خټك او داسې نور راوړی دی او دد وی سوانح او تذکره یې لیکلی ده او ځینی فولکوری قصې چه پښتانه ور سره علاقه لری لکه د فتح خان او رابیانکل هم د بینواله خوا په دی سمسترونو کښې ځای شوې دی.

که څوك غواړی چه د بینوا په افکارو پوه شی او دده نظریات او د تفکر طرز ځانته معلوم کړی باید هغه مضمون، چه د (میانه تگ) د عنوان لاندې یې لیکلی دی ولولی- دی لیکی:

میانه تگ یوه سمه لاره ده چه یوې خواته یې دافراط او بلی خواته یی د تفریط مضرې لارې تیرې شوی دی، ځینی وگړی له یې لارې څخه دافراط خواته تللی او ځینی بیا د تفریط په کږه لاره روان دی، داوگړی تل تر تله د روح یا جسم په رنځ اخته وی مثلا ځینی وگړی چه ښه خواړه ووینی نو ورته حریص شی ځان یی په واك کښی نه وی

دلـــزوم تـر قـدر یې ډیر وخوری چه په نتیجـه کښې یې ګیډه دتحلیل څخه عاجزه شی او دی هـــم مریض شی. دا سې وګړی دانسان مرتبه تـر حیوانـه هم ښکته کوی ځکه چـه حیوان هیڅکله تر مړ یدو وروسته خوراك نه کوی داخلك که ناروغه شی نو موږیی باید دا نارو غتیا ددوی دخپله لاسه وبولـو. ځینی وګړی بیا شته چـه هـر څوډیرې پیسې پیدا کړی خوبیا هم تل دخپل قسمته ځنې شکا یت کوی او یوپول نه په ځان نه په عیال نه په کلی او نه دملت دپاره خرڅوی داخلك دهمیش دپاره دځان دښمنان دی او خپل روح یې هم دحرص په رازرازه رضواخته کړی دی دې وګړو ژوندون د مال دپیدا کولو دپاره بللی دی ـ هیڅکله مال دژ ند دپا ر ه نه بو لی، نونه دا ښه دی او نه هغه هو ! دلته یو بل ټو لی هم شته چه میا نه تګ کوی نه د بیځا یه خر څو دلاسه بربادی او نه دډیر حرص څخه په تنګ دی. دا ډله تل خوښ او خوشحاله ګرزی ـ نه یې جسم او نه یې روح په تکلیف دی دا وګړی ډیر نیک بـخته دی .دو ی چه څه وګټی څه مصرف کړی او څه ذخیره کو ی . موږ ته د ابنا ی چه په هر کار کښې میا نه تګـ و کړ و د ا فر ا ط او تفر یـط

څخه ځا ن و سا تو که ډیر چا بك ولاړ شو ستړ ی کیږو او که بیخی قرار او سو که اوسو که تګ و کړونو مقصد ته رسید ای نه شو نو بهتره داده چه نه ځانو نه ستړی کړو او نه دمقصد دلارې څخه پاتې شو . په پای کښې وا یم چه میا نه تګ سړ ی هر مطلب ته رسو ی .

دنثری آثا رو څخه چه په سمسترو کښې چاپ شوی دی ، په ښکاره سره ددې ځوان لیکوال په ایډ یالو ژی او نظر یاتو کښې متضاد تما یل منعکس کیږ ی ـ کورنی ما حول ـ تر بیې او ار تجا عی اصولو چه په هغه وخت کښې یی دافغا نستان په اجتماعی او اد بی ژو ند حکمرانی د ر لوده، دې دری وا ړود بینوا په فکر ی او شعوری سا خت تأثیر اچو لی د ی .

مګر لا په همغو کـلونو کښې دې مستعد لیکوال سره ددې خبرې زغم نه وچه دحقایقو منفی ا طر افو ته په حیر ا نی سره ونه ګوری خو په خپلو آثارو کښې دغه منفی ډډې دتنقیدلا ندې نه نیسی بلکه یوازې په تمسخر ورته ګوری .

د (میانه تګ) مضمو ن په خپله دلیکوال کړه وړه او هنری صورت منعکس او ښکاره کوی چه یو ټکنی او دوه زړی سړی دی.

بینوا حتی دهغو اصو لو په اصلا ح کښې چه افغا نی معا صر ې ټو لنې متا ثرې کوی هم کوم فکر او اقدام نه کوی بلکه پیشنهاد کوی چه بیړه مه کو ی کنه ستړ ی کیږ و . دپلار اوزوی قصه کښې چه بینوا لیکلې ده دهیوادمحبت او د زیار ستا ینه په کښې شوی ده . په ۱۹٤۱ کال کښې دبینو ا داشعارویوه مجموعه (دهېنې مینه) چاپ شوه . پههمدې وخت کښې دهٔ یو بل کتاب (اوسنیا دبا) دپارههم کار کاوه اود (ادبی فنون) نومی کتا ب دپاره یې مواد هم تیا رول - په همدې کال کښې دی دپښتو ټولنی دنشریاتی کارونو د پاره وټا کل شو ، په عیـن حال کـښې د کابل مجلی مدیرهم و .

یو کال وروسته د مطبوعاتو پهریاست کښې وظیفه ور کړی شوه چه هلته تر پنځو کلونو پورې یې د نشر یاتې کار ونو اداره کو له (۱۹٤۱)ع کال دبینوا د آثارو دپاره یوهمهمه مرحلهداو ددهپه مشاهداتواو نظریاتو کښې پههمدې وخت کښې پوره تغییرلیدل کیږی په همدې کال کـښې د ده یو ا ثر (هیڅ وخت نه لرم) په طلوع افغان کښې چاپ شو - په دې اثر کښې بینوا په یو لټ اوډا نګیی ماموربانديې پهښکاره سره ملنډې وهی اوددې ځوان مامور دژوند خرنګوالی سره موږ داسی اشنا کوی:« په اداره کښې بهدځو کی دپاسهویده وی بیابه سینماته روان وی او کلهچه بیرته کورتهراشی نودراډیو سازته به غوږ کیږدی. مګر کله چهخبرونه شروع شی. نوراډیو بنده کړی اودملګروسره دشطرنج پهلوبه شروع کوی . پهدفتر کښې ملاقات کوونکوسره نه ګوری او هیڅوخت نهلرد په کور کښې مطالعهنه کوی ځکه هیڅوخت لری پههمدې ترتیبهرهورځ ورباندی تیریږی اویوږغ کوی هیڅ وخت نلرم. »

بینواد تصنعی الفاظوسره علاقه نهلری بلکه دروانې محاورې څخه استفاده او کاراخلی او همدا وجه ده چه دده اثارپه موزون او طبیعی فورم اوشکل کښې ځان ښکاره کوی.

محیط اوماحول دې لیکوال ته د نوو نوو موضوعاتو الهام او القاء کوی ،چه ددوی په منځ کښې یوهموضوع دښځودولوردهـ بینوا لومړی افغانی لیکوال دی چه دولور پهمقابل کښې ئې دتبلیغ دروازهبیر ته کړې ده- بینوا په هنری او قوی ابچه سره داخبره ښکاره کړ ې ده چهدوالدینوحرص پهخپلهوالدین دیوهخطر ناك عاقبتسره مخامخ کوی یعنی دپیسود حرص له

کبله خپله لوریونا مناسب ځای کښې ور کوی چه نتیجه مقلوبه راځی.

په ۱۹٤۲ ع کال کښې بینوا یوه قصه (نامراده نجلی) په انیس کښې چاپ کړه - په دې قصه کښې وایی چه یو پلار خپله پنځلس کلنه لور زاړه سړی ته په پنځه زره افغانۍ ور کړه او په دی سبب سره یې دهغی ټولې ارزو ګانې او هیلې دپښو لاندې کړې. دا پیغله به روځ په روځ ډنګره کېده له اودمخ نه به یې خاورې دوړیدې. یوه ورځ دخپل مرګ څخه مخ کې یلار کره ورغله او ورنه یې وویل: پلاره زه خو ستا ګرانه او په زړه پورې لور وم او ما ګومان کاوه چه ته زما مربی او حقیقی غمخور یې نو دا په څه زما ټولی هیلې او دځوانی ارمانونه دې خاوری کړل. اباتانه غوښتل چه زه په دې نړی کښې نورژوند و کړم او ښې شپې ور کښې سبا کړم؟ تازه دځوانی نه محرومه کړم او ستانه هم ناامیده شوم ستا ددې نامناسب کار له امله چه خپل اولاد دې خرڅ کړی دی زما دخرشحالی په عوض خپګان اود نیک مرغی په عوض غمونه راغلل. ما ګومان کاوه چه ته به زما ژوند لانور هم نیک مرغه کړې مګر تا په داسی خوځه او ژوره کښې ورواچولم چه هیڅ دستر ګوغړ ولوشان نشته او دژوندد تیرولو تصور نه پوهیږم دا ولې؟ هو پوه شوم دا کاې دپیسو محبت و کړې پلاره! تاد ومره سپك او په حقارت راته و کتل چه دپیسو په مقابل کښې دې د لور توب نه وویستلم - آیا پلار نی مینه همداسې وی؟ آه دادی ستاله لاسه په داسې حال کښې چه زړه مې د ځوانی له ارمانونو ډك دی مرم. خو شحا له اوسه او هغه ولوا چه په مادې اخیستی دی په جیب کښې کلك وسا ته اوزه به په تو رو خاورو کښې پرته یم.

په دې قصه کښې او همدار ازد (هیڅ وخت نه لرم) په مضمون کښې بینواد منلوك شکل نه کار اخیستی دی - دبینوا په دې دوه مضمو نو کښې په ښکاره ډول سره نوی جریانات منعکس شوی دی او په دې خصوص کښې لو مړ نی آثار دی. بینوا یو له هغو مبتکر ینو نه دی چه په تدریج سره یې ادبیات دیمو کراسی کړی دی یعنی پدژوندیې ورکړه کړی دی.

بینوا په څوژ بواردو - فارسی، عربی او انګلیسی پو هیږی او ډیرې ترجمې کوی - په ۱۹٤۱ کال کښې بینوادتاګور دنثری اشعارو دمجموعی ترجمه (باغوان) په طلوع افغان کښې چاپ کړه او دوه کاله ورو سته یې دتاګور بل اثر هم ترجمه او په انیس کښې چاپ کړ.

بینوا افغانی لیکوال دلویدیزې اروپا دهنری اد بیاتوسره او همدا رازد روسی کلاسیکی آثاروسره اشنا کړی دی او په دې باره کښې یې ور ته نشر یات کړی دی.

بینوا دپښتو ملی او فولکوری آثاروسره ډیره علاقه لری. ده دپیر محمد کاکړ اشعارو دیوان، دعبد الرحمن داشعارو مجموعه او دنو رو آثار چاپ کړی دی. دی په هغه کتاب کښې چه (پښتنې ښځی) نومیزی لوستونکی دمعاصرو شاعرانو - لیکوالو اونو رو ښځو سره اشنا کوی - که څه هم دا کتاب دمؤلف له خوا دخو شبینی درنا لاندې لیکل شوی دی یعنی دو مره ملیت پرستی ور کښې ځر ګنده شوې ده چه د خپل هیواد هر څه ته ښه اودنورو هر څه ته بد کتل شوی دی خو بیا هم دا کتاب هغو مؤرخینو او فلالوجستانو دپاره چه غواړی د پښتنو کلتوری خوا وې زده کړی ډیر اهمیت لری.

دبینوا دوه کتابونه (دغنمو وږی) او (میرویس نیکه) د موضوع له حیثه سره نژدې دی. لومړی کتاب د پښتنی حکومت د مؤسس لوی احمد شاه بابا په باره کښې لیکل شوی دی اودوهم کتاب دغلجی قوم دمشر میرویس نیکه په متعلق لیکل شوی دی هغه میرویس چه د ۱۸ قرن یومشهور شخص اود کندهار څخه دصفویانو شړونکی دی.

په ۱۹٤٤ع کال کښې چه د کابل په پوهنتون کښې داد بیاتو فاکولته بیرته شوه بینوا ور کښې داستاد په حیث مقرر شو - له دې کبله چه دمعلمی فعالیت اوعلمی تتبع سره نژدې دی ده په یوه وخت کښې هم معلمی کوله اوهم علمی تتبع - په دی وخت کښې دده دادب پیژندنې اودپښتو ژبې تاریخی مقالې د کابل په ادبی مجلې او کلنی کښې چاپیدلې.

بینوا په فاکولته کښې یوه سلسله لیکچرونه ورکول اووروسته وروسته یې په دې اعتراف وکړ چه کوم وخت زه داد بیاتو داستاد په حیث په فاکولته کښې انتخابیدم ماداکار په ډیره خوښی سره ومانه او داګمان مې در لود چه داد بیاتو معلمی آسان کاردی ځکه ډیر کتابونه ورته په عربی اوفارسی وقف شوی دی مګر لاپه لومړی مرحله کښې دډیرو مشکلاتو سره مخامخ شوم او دا ځکه چه له یوې خوا په افغانستان کښې داسې څوك نه دی تیر شوی چه پښتو ادبیات یې سره راغونډ کړی او ترتیب کړی وی حتی هغونه استفاده وشی اوله بلې خوادعربی اوفارسی ژبو داد بیاتو قواعد د پښتو

سره نه تطبیقیږی. دادبی نظریاتو داظهار دپاره باید حقیقی موادپه لاس کښې ولرو ـ دبینوا دوینا له مخې دی مجبور شوچه د ډیرو پښتنو شاعرانو دیوانونو متنونه تجزیه اوپه ډیرزیار سره یې وپلټی.

په ۱۹٤۸ع کال کښې پښتو اکاډیمی د(ادبی فنون) کتاب چاپ کړ ـ د دې کتاب محتویات هغه لیکچرونه دی چه بینوا دادبیاتو په فاکولته کښې ورکړی دی اوهم ځینی دده هغه مقالې دی چه دادبیاتو په باره کښې نشر شوی دی ـ دالومړی کتاب دی چه په ادبی مسایلو یې ژوره رڼا اچولې ده او د مملکت داجتماعی ټولنوله خوا یې ښه هر کلی شوی اوپه لوړ قیمت یې ورته کتلی دی دا کتاب لاچاپ شوی هم نه و چه دملی اقتصاددوزیرله خواورته جایزه ور کړی شوه.

په دې کتاب کښې بینوا له خواد ژبې ټول تصویری وسایل ـ ساختمان اوحتی دبلاغت اوفصاحت گردموضوعات په نظر کښې نیول شوی دی ـ دلته ئی په ښکاره سره لیکوالوته زغ کوی چه دخپل سبك څښتنان شی، زیاته استفاده دپښتو کلمونه کوی ـ او که پردی لغات استعمالوی هغه هم دپښتو د قواعدو تابع گرځوی.

خودبینوا دا کتاب سره د دومره مزیتونو اوپه افغانی ټولنو کښې سره ددومره مقبولیته بیاهم دلویو نواقصو نه خالی نه دی دټولو لونه لومړی داچه په داسې لهجه لیکل شوی دی چه په نهائی درجه دعربی نه ډك دی. دمثالونو مواد یې ټول دپخوانیو شاعرانو د آثارو څخه رااخستی شوی دی (دطبیعی اوهنری نثر برخه په کښې نشته)

په دې باره کښې خبرې نه دی په کښې شوی چه دادبی آثارومهم اساس مضمون وی نه الفاظ شرنگول ـ دیو مضمون د ساختمان طرزیی نه دی بیان کړی، چه د ې ټولو نو اقصود کتاب قیمت راښکته کړی دی. په ۱۹٤۵ ع کال کښې بینوا دپښتوټولنې دمعاون په حیث مقرر شو. مگر یو کال وروسته په خپله دپښتو اکاډیمی رئیس شو، دد ه یو ا بتکار دادی چه په کابل مجله کښې دده دمبارزو لمن دپښتو شعرونودنوی کولواواجتماعی کولو دپاره توسعه پیدا کړه ده پخپلو شعری آثارو کښې په ښکاره سره ویلی دی چه نورې دگل او بلبل اوزدی قصې پریږ دی اوباید خپل آثار دعصر په مقتضا ولیکی؟.

دده مشهور کتاب (پریشانه افکار) چه د نثری شعر(منثورادب) په سبك لیکل شوی دی

۱۹٤۸ ع کال ته منسوب دی. بینوا چه د انوع اشعار (نثری اشعار) انتخاب کړی دی زما په ګومان چه دې کار دپاره مهم اسباب شته یو داچه شاعر په ښکاره سره قصد کړی دی چه دغنعنوی عشقی اشعارو نه ډډه وکړی او بل داچه ده دتا ګور تقلید کړی دی ځکه دهغه آثار هم دنثری اشعارو په لباس کښې ځان نغښتی دی، او بل لوی علت د دې انتخاب دپاره دادی چه شاعر غواړی چه دده په کلام هر څوك پوه شي ځکه اکثر خلك نه یواځې دبی سوادی له امله په او سنیو ادبیاتو نه پوهیږی بلکه دډیرو په نثرونو هم نه پوهیږی. همداراز بینوا په دې انتخاب کښې دروښانیانو دمشر بایزید انصاری لار غوره کړې ده. بایزید انصاری د دې دپاره چه عام خلك په خپلو احساساتو وپوهوی دارازا اشعارئې ورته ایجاد کړی دی. په (پریشانه افکار) کتاب کښې دسر نه تر پایه پورې دوه اساسی روحونه چلیدلی دی. یو داستعمار سره دښمنی ده هغه استعمار چه پښتون ملت ته یې څومره غمونه راوړی دی او بل دمملکت د وروسته پاته کیدو څخه نارضایت دی او همداراز داجتماعی ژوند شرطو نو دنه مساعدت نه شکوه ده.

بینوا د (پریشانه افکار) په یو شعر کښې داستعمار داجنایت چه له یوې خوا یې دپښتنو مځکه لاندې کړه او له بلې خوا یې پښتانه په دوه برخو وویشل د هغه قاتل دجنایت سره مقایسه کوی چه تیره چاره یې دخپل مقتول په غاړه ایښی وی او دتعذیب ددوام دپاره ئې په قرار قرار کشوی، د مؤلف له خوا په نهایت تندرنګ اثر لیکل کیږی. دټولې مجموعې خاصه خواشینی او جګر خونی ده. دی په یو شعر کښې (زما دنیا) په ترخه لهجه داسې اظهار کوی: «دغه نړی چه زه ور کښې اوسم بالکل تنګه او وړه ده. یو آزاد فکر په کښې نه پیدا کیږی په داسې دنیا کښې نور ژوند لازم نه دی» په یو بل شعر کښې لیکی:

موږ ته دارا پاتې ده: **یا مرګ یا د نوی ژوند جوړول.**

د (پریشانه افکار) په اثر کښې بینوا دمملکت د اجتماعی ژوند داصلاحاتو په باره کښې کوم پیشنهاد نه دی کړی ځکه چه دا کارده په یو بل ځای کښې توضیح کړی دی. «پریشانه افکار» نه یوازې دا چه دبینوا په آثارو کښې یو غوره اثر دی بلکه د پښتو په ټولو هنری او طبیعی ادبیاتو کښې غوره مقام لری. دبینوا په نورو آثارو کښې ځینې نظریات په اشاره مبهم طرز او غیر مستقیم ډول بیان شوی دی مګر همدغه نظریات بیا په دې مجموعه

«پریشانه افکار» کښې په تنده اوښکاره سره اظهار شوی دی . لکه دهمدې مجموعې په یوشعر کښې چه بینوالیکی :

« زمونږ تریخ اوتیاره ژوند زموږ احساسات راپریشانه کړی دی . »

هو! دهمدې پریشانی له امله دې مستعد لیکوال په ۱۹٤۷ ع کال کښې دا مجموعه « پریشانه افکار » ولیکله .

داحقیقت هم باید دنظر لاندې ونیسو چه دبینوا په آثارو باندې د «نیکراسف» اجتماعي شعرونو اثر اچولی دی ـ د ۱۹٤٦ ع کال دا کتوبر په میاشت کښې په کابل مجله کښې د نیکراسف شعر د «ګریش سرود» چه دهغې قصیدې څخه (څوك په شور وی کښې بنه ژوند کوی) را اقتباس شوی دی، چاپ شوی و اومترجم یې بینوا و .

د بینوا مینه اوعلاقه بالکل دافغانستان د زحمت کښو او زیار ګو یستونکو طبقو په خواده . دده مجموعې «پریشانه افکار» ډیر مقلدین پیدا کړل او ډیرو وګړو ددې مجموعې تقلید دمعنی اوصورت له حیثه وکړ .

په ۱۹٤۷ ع کال کښې د کابل په مجله کښې د خیال یوعشقی اثر « چا ته د مینې مکتوب » چاپ شو . په دې وخت کښې مجله په خپله دبینوا په غاړه وه ـ ده په همدې ګڼه کښې لیکوالو ته اخطارور کړچه دداسې عشقی مضامینو اودګل او بلبل داوږ دوسند روڅخه ځان وژغوری اودعصر په مقتضی روان شی .

نورفکرونه پریږدی، یوازې د خپل ملت په فکر اوغم کښې شی .

که چېرې دبنا غلی خیال سره دخپل ملت درد وای داسی مضمون به یې نه لیکلی . ددې په عوض به یې هغه چیغه لیکلی وای چه مات اوخلك یې رابیدار کړی وای ـ دمجلې په همدې ګڼه کښې د محمد ارسلان سلیمی مضمون «دوینو ولور» دغلام حسن ساپی مضمون «دپښتنو اقتصادی اوضاع» هم چاپ شوی و چه ددې دوه مضمونو اود خیال دمضمون فرق دومره دی چه هیڅ سره نه مقایسه کیږی .

شاعرانو او نثرلیکونکو ته دبینوا دازغ چه خپله اساسی توجه اجتماعی خواته واړوی او دمجلې داتصمیم چه نورعشقی شیان نه نشر ؤ ـ دې دواړو خبرو دپښتو دطبیعی اثارو په مطالبو پوره اثر وکړ ـ د ۱۹٤۸ ع کال نه را په دې خوا دپښتو په مضمونو او آثارو کښې ډیر توپیر ولیدل شو اود کم او کیف له حیثه ور کښې بدلون راغی .

په ۱۹٤۹ ع کال کښې بینوا یو کتاب

« خوشحال خان څه وائی ؟ » دچاپ دپاره تیار کړ- ددې کتاب مضمون همهغه د شاعر دشعرونو مطلب دی چه په بل لباس کښې ښکاره شوی دی. دې کتاب په خپله د خوشحال خان جایزه اخستی ده .

په ۱۹٤۷ع کال کښې هغو پښتو چه په هند کښې صورت ونیو او د پښتونستان د خلکو هغو جګړو چه دخپلواکۍ د پاره یې ورته دوام ورکړ دافغانی ټولنو توجه ځانته جلب کړه. هغه فعالیت کښې چه دپردیو دسلطې ختمیدو او خپلواك پښتونستان د جوړیدو دپاره روان دی ، بینواهم برخه اخستی ده . ده په خپلومقالو کښې داستعمار په ضدخپرونی کړی او دا ستعمار بې رحمی او مظالم یې څرګند کړی دی .

په دې وخت کښې بینوا دډرامو شکل ته مراجعه وکړه او ددې کار په لیکلو بوخت شو په ۱۹۵۰ع کال کښې ده یوه وړه ډرامه «ځلمی شهید» ولیکله .

په ۱۹٤۸ع کال کښې بینوا دخادم سره پیښور ته لاړل او هلته دمنشی احمد جان او دپیښور دنورولیکوالو او اجتماعی رجالو سره یې ملاقاتو نه وکړل .

په ۱۹٤۹ع کال کښې په کابل کښې دپښتونستان دخلکو دپاره او ددوی د نظریاتو اودحقې ادعاء داظهار دپاره یو اخبار « هیواد» چالان شو، ددې اخبار لومړی لومړی مدیر په خپله بینوا و. په دغو وختو کښې ده یو کتاب پښتونستان لیکلی چه لومړی په انیس کښې ټوټه ټوټه چاپ شو او بیا په ۱۹۵۱ ع کال دیو مستقل کتاب په حیث را ووت . دا کتاب یو اساسی اثر او د حقایقو نه ډك دی . دپښتنو دجغرافیې – تاریخ او اقتصاد په باره کښې قیمتی معلومات لری او تقریباً په هره کرښه کښې یې دمؤلف دښمنی داشغالګر استعمار په نسبت ښکاری .

په ۱۹۵۱ع کال کښې دځینو خبرو له امله چه دیومشر په حیث یې نسبت بینوا ته کیدلو دده لیکنې او آثارو نظر لاندې ونیول شول ده ددې کارزغم اوتحمل ونه شو کړای او خپله استعفایې وړاندې کړه. ده په یو مکتوب کښې چه د کابل په مجله کښې نشر شو (لوستونکو سره خدای په امانی) دپښتو اکاډیمی نه دخپل تګ اودخپلی استعفا علت څرګند کړی دی، بدچانسی او داعصبو ضعف لوی علت بلل شوی دی -

دی لیکی چه د خپل محترم رئیس دومره کومك او شفقت چه زما هره مقاله پخواله چاپ نه ګوری ما دومره احسان په ځان نه شومنلی همهغه و چه د خپل خلاصون غوښتنلیك مې وړا ندی کړ او منظور شو.

دژبو او په سر چوك کښې دا خبرې خپرې شوې چه بینوا د اکاډیمی نه ولاړ- حتی دا خبرې غلام حسن ساپی ته ورسیدې- ده په (سرواز) مکتوب کښې بینوا ته ولیکل .

بینوا! زه خبر شوم چه ته دا کاډیمی نه ځې (او که او باسی دې) په هر تقدیر ستا دا اقدام د پښتو او پښتنو د پاره لویه بد بختی ده- دساپی په عقیده د بینوا فعالیت د پښتنو په را بیداری کښې د اوږده خوب نه ډیر کومك کوی- زه دیو پښتون په حیث ستا داستعفا سره خپله نه موافقه ښکاره کوم . ده د خپل مکتوب په اخیر کښې بینوا په دې ملزم کړی چه د بینوا دې کار پخواله مشورې نه سر نه ولی دی. بینوا چه د اکاډیمی نه لاړ نو دده ادبی فعالیت هم سقوط و کړ- په ۱۹۵۲ ع کال کښې بینوا د مطبوعاتو په ریاست کښې د کورنیو خپرو نو په راس کښې مقرر شو او بیا په ۱۹۵۳ ع کال کښې د هند په مرکز ډهلی کښې د اتاشه په ډول ومنل شو- ده په ډهلی کښې یو کتاب د (خټکو دوره) چه یو تاریخی اثر دی تمام کړ او دې کتاب هم د خوشحال خان جایزه وګټله - په ۱۹۵٦ ع کال کښې بینوا خپل هوادته بیرته مراجعه و کړه او د کابل راډیو رییس شو.

محمد رحیم الهام

تشریحی ژبپوهنه

توضیح (ترنکوال ته)

د کابل مجلې دروان کال په نهمه ګڼه کښې مې دښاغلی ترنکوال هغه مقاله ولو سته چه «تشریحی ژبپوهنه» یې عنوان دی.

که څه هم- په دې باب کښې چه: دښاغلی پالوال مضمون په کوم وخت کښې او دڅه غرض دپاره ترجمه اوخپورشوی دی او بیاولې دغه مضمون زماله مضمون څخه مقتبس بلل شوی او بیاولې ورسره مقایسه شوی دی، خبرې ډیرې دی. خودومره وایم چه ښاغلی ترنکوال نه پوهیږی چه پالوال دا مضمون رأساً له ګلیسن څخه اودچاپه فرمایش دهمدې غرض دپاره ترجمه کړی چه دترنکوال صاحب ددې مقالې دلیکلو دپاره چه یوازې علمی او تحقیقی مقصد هم نه لری- زمینه برابره کړی.

توضیح داده چه مایو کتاب تدوین کړی دی چه «دژ بځیرنې مقدمه» نومیږی او یوه قلمی نسخه یې په (۱٦٤۳) نښه د ادبیاتو پوهنځی په کتابخانه کښې خوندی شوې ده. دا کتاب دعمومی ژبپوهنې تقریباً ټول موضوعات احتوا کوی. ددې کتاب مأخذونه ډیرنه دی اوداهم ځکه چه تراوسه پورې زموږ په هیواد کښې دژبپوهنې معیاری کتابونه بیخی لږدی. نوځکه زما ددغه کتاب دمأخذو نوشمیر چه اکثره یې په انګریزی دی (۲۰) کتابواو رسالو ته رسیږی. مادژبپوهنې په هره څانګه کښې له دغو شلو مأخذ و څخه په زیا ترو مواردو کښې غونډغونډ چپتر ونه ترجمه کړی او سره ټول کړی مې دی. خوداترجمې صرف ساده اوصفاتر جمې نه دی. له دغو کتابو څخه مې اصلی پرنسیپونه رأساً اخیستی دی خو په پښتو کښې مې داسې تطبیق کړی دی چه په طبیعی ډول د دې ژبې له موضوعاتواو کتـه ګو ریو سره سمون وخوړی شی. ددې کتاب دتشریحی ژبپوهنې برخه زیاتره دګلیسن له هغه کتاب څخه چه An Introduction to Descriptive Linguistics نومیږی اقتباس شوې ده اوبیا نورې برخې یې له نورو کتابونو څخه هم اخستل شوی دی ددې کتاب دچاپولودپاره تراوسه زمینه برابره شوې نه ده نومادهغه ځینی برخې دوزمې او کابل په مجلو کښې خپرې کړې. دغه برخې چه ظاهراً جلا جلا عناوین لری سره تړلی

دی اود یوغټ کتاب پرله پسې او منظم موضوعات دی. په دې اساس که داصلي کتاب یادهغه خپرو شوو برخوته په جلا جلا ډول ګوته ونیوله شي نوهره برخه یې ترجمه ګڼله کیږي. مګر که ټول کتاب ته سړی وګوری اوزما تطبیقاتو ته هم ځیر شي نودا کتاب تألیف بللی شي. سره له دې هم ماد کابل اودوزمې دمجلوپه خوراتیرو ګڼو کښې په هرځای کښې خپل مأخذونه ښودلی دی اوخیال مې دادی چه که کله ددې کتاب ټول متن - ورو ورو په «کابل» کښې خپورشي دهرې برخې مفصل مأخذونه به هم وروسته وښیم. مادغه کتاب دپښتو متخصصانو-ښاغلی دوریانکوف اوښاغلی هربرت پنزل ته هم ښودلی او خبرې مې په دې باب کښې ورسره کړی دی. دشوروی پوهانو نظریه خوددې کتاب پرهغو برخو باندې - کوم چه په «کابل» کښې خپرې شوې هماغه ده چه دروان کال په (٤) ګڼه کښې دمسکو دعلمي اکاډیمي دیوې محترمې غړی ګریسموا دمضمون ترجمه یې راخرګند وی او پکښې لیکی چه «دمحمدرحیم الهام مقالې پر علمي تحقیقاتو بنادی اودمجلې صفحې یې بنایسته کړی دی» (وګورئ: کابل مجله-دوان کال (٤) ګڼه دوروستي وقایې وروستي کرښې) خو ښاغلی هربرت پنزل امریکائی ژبپوهاند اودپښتو څیړونکی په یوه لیک کښې چه د ادبیاتو د پوهنځی دپوه رئیس ښاغلی مجروح په نوم یې دادبیاتو پوهنځی ته لیږلی (او که ترنکوال صاحب وغواړی- اصل به یې ورته وښیم) پرهمدې کتاب باندې داسې تبصره کوی:

«ماله ښاغلی محمد رحیم الهام سره- دده دهغو ترجمو په باب اوزده بحثونه و کړه- کوم چه یې دبلوم فیلډ، ګایسن اونوروڅخه یې کړی دی. زماپه خیال دښاغلی الهام و دغه کارته صرف ترجمه نه شوویلی. ځکه یوخو دده اصلی مأخذونه په علمي لحاظ ډیرمشکل دی (۱) او بله دا چه دانګر یزی معادلو مثالونو په مقابل کښې یې صحیح او کره پښتو مثالونه راوړی دی اودده تحلیل اوقضاوت صحیح اودرست دی. نویې یولوی خدمت ځکه کړی دی چه دغه ترجمې یې په پښتو کښې داستفادې وړ ګرځولی دی. زه ښاغلی الهام ته مبارکی وایم اوپه پوره ډاډینه وایم چه دده دغه کتاب دې چاپ شی. ځکه په پښتو کښې یې دژبپوهنې یوښه متن برابر کړی دی.»

اوس دې قضاوت د ترنکوال صاحب په لاس وی اوهیله ورڅخه کوم چه په اصل موضوعاتو باندې انتقاد و کړی او دمقالو محتویات دې تصحیح کړی ترڅوزما نیمګړې تیاوې تکمیل شی خوشحاله به شم. په درناوی.

(۱) همدااوجه ده چه دښاغلی پالوال پرترجمه په ژبپوهنه کښې ناوارده خلك ښه نه پوهیږی.

حفیظ الله امین

دنشنلیزم سیر او تحلیل

-۲-

ملی دولت دسیاسی سازمان دیوایدیال تشکیل په حیث: سیاسی سرحدونه باید د نژاد پیژندنې، ژب پوهنې - بشریاتو او د ملی اقتصاد دپیشقدمانو له نظریاتو سره انطباق ولری چه په نشنلزم اوپه دیوروستی وخت کښی ډیره اړتیا ورته وجودلری. پخوا به یوښار اویادڅوژبو هیواد به چه د کورنیوپه ارتباط سره به تاسیس شوی اویا به دیوې ډلې داقتصادی ګټوله پاره به دنورو حقوق استثماریدل دقبول وړ سیاسی سازمان په حیث تصور کیده.

په بل وخت کښې دنړی تر بیه شوې طبقې اوعامه خلك دنړی په عمومی دولت معتقد و که څه هم چه دتکنیکی اوجغرافیایی اوضاعو په حساب هیڅکله دغه ایدیال واقعیت نه دی موندلی اوس اوس خلك دنشنلزم په خاص قدرت سره دنورو داستثماری قدرتو په مقابل کښې پورته شوی، داقتصادی استثماری اوسیاسی استعماری سازمانو منلوته غاړه نه ږدی - او د نشنلزم پهزور نوی ملیتونه تشکیل کیږی. نو په دې اساس نیشنلزم دملی دولتو دتشکیل په واسطه داستثمار او استعمار په مقابل کښې اود هغو دماتې له پاره شدیده ضربه او لوی قدرت تصور کیږی.

ملیت د ثقافتی ژوند دسرچینې په حیث: په ډیر وتاریخی مودو کښې دین دثقافتی ژوند صحیحه سرچینه تصور کیده. انسان داسې تصور کید، چه دټولو شیانو له پاره دخدائی خدمت، دین ته د کامل تسلیم په واسطه ابتکار کولای شی. په بل وختکښې ښوونه اوروزنه دیوې داسې طبقې په تمدن کښې ډوبه وه چه دغه تمدن له ملی سرحدونه اوښتی وی.

درنسانس په وخت کښې اوله هغه نه وروسته د انسان روزنې د کلاسیك مدنیت په خاوره کښې ریښی زغلولې وې. تعلیم اوتربیه او زده کړه- دانسان دا خلاقواو د افکارو تشکل دملی سرحدونو په واسطه محدود نه و. دملیت له تشکل سره سم او د نشنلزم په دوره کښې دتعلیم او تربیې اوزده کړې حدود معین نه وی --- خوټول تفکر پـه ملی ثقافت او ثقافتی ژوند متمرکزوی. ملیت داقتصادی

ښیګڼې په حیث: د نشنلزم دغه اړخ د سیاسی اړخ د مطلقې شاهی د وخت په واسطه پیدا شوې وچه له مرکنتلزم سره یوځای منځ ته راغلی و. خو مرکنتلزم بیله دې چه یوه داسی طرحه وی چه د ملی یووالی له پاره له پوره ته په کښته تطبیق شی بل څه نه و. خو سره له دې هم هیڅکله یې واقعیت و نه موند. د مرکنتلزم هدف داو چه د دولت قدرت په بین المللی سیاست کښې تقویه کړی. هغه اقتصادی سیستم چه له مرکنتلزم څخه وروسته را غی لیسه فیر (Laissez Fair) وچه په اقتصادی تشبثاتو کښې یې د حکومت مداخله ناجائزه ګڼله او هدف یې د فردی سوبې اوړوالی و. اقتصادی نشنلزم یوه ډول نوې مرکنتلزم دی چه ډیر متمرکز دولت ایجابوی او دې کتاتو را نو په واسطه ایجاد شوی دی.

اقتصادی نشنلزم نسبت سیاسی او ثقافتی نشنلزم ته ډیر وروستی انکشاف بلل کیږی او ادعا لری چه انفرادی ښه والی یوازې د دولت د اقتصادی قدرت په واسطه امکان لری او تضمین کیدای شی. له ملیت سره د فرد نژدې سیاسی او ثقافتی هویت چه د اتلسمې پیړی په وروستیو وختو کښې اود نولسمی پیړی په لومړیو وختو کښې واقع شو — د اقتصادی ساحی په لوریې یوازې د نولسمې پیړی په وروستیو وختو کښې دوام وموند. د کارل مارکس له نظره ملیت او نشنلزم د تاریخ په جریان کښې د اقتصادی استثمار له پاره د سرمایه دارانو ایجاددی. دی دټولې نړی کاریګروته دیووالی له پاره بلنه ورکوی. په کمونیزم کښې د اقتصادی ښیګڼو د پاره له ملیت څخه بین المللیت چه په اشتراکیت بناشوی وی د تاریخی واقعیت حقیقی مرحله تصور کیږی. او ملیت د زیار کښو خلکو د استثمار له پاره دو سیلې په حیث معرفی کوی — او د انسان د اقتصادی ژوند نهایې مرحله کښې د استعداد په قدر کار او د احتیاج په اندازه استفاده ضروری او حتمی الوقوع بولی.

له ملیت سره عالي وفا:

د استریا شاهی ترهغه وخته پورې د وام دراود ترڅو چه د خلکو عالی وفا له یوې کورنی څخه ملیت ته انتقال وموند. کله چه د انسان عالی وفا دهغه له ملیت سره ارتباط وموندد نشنلزم دوره شروع شوه.

نشنلزم د افکارو یو حالت دی: تاریخی عمل په اجتماعی روحیاتو — د فردی او اجتماعی ژوند په حقله د انسان د تلقی د تحولاتو د یو دوام

په حیث تحلیل کیدای سی. نشنلیزم یو فکر دی چه دانسان دماغ اوزړه دنو یو افکارو، احساساتو ډکوی او هغوته داسې سوق ورکوی چه خپل شعور دمنظمو اعمالو په لور ترجمه کړی. نو ملت یو اځې یو ګروپ نه دی چه دمشترك شعور په واسطه یو ځای شوی وی- بلکه دا یو داسې ګروپ هم دی چه زیار کاږی چه داسې حالت پیدا کړی چه دمنظم فعالیت دعالی شکل او یو مقتدر دولت په حیث وی. نشنلزم ملی دولت غواړی او دملی دولت وجود نشنلزم تقویه کوی. دلته یو مستدام ذات البینی ارتباط او عمل پیدا کیږی.

ملیت دفکر یو حالت دی چه له سیاسی حقیقت سره تعلق لری او زیار کاږی چه له یوه سیاسی حقیقت سره متعلق وی. دغه تعلق نشنلزم او معاصر ملیت منعکس کوی چه دفکر او سیاسی تشکیل له اختلاط څخه پیدا شوی و. د نشنلزم فکر او تشکیل په یوې نوې معنی کښې سره یو ځای شول دنشنلزم فکر او شکل دنشنلزم له دورې څخه پخوا موجودو. دغه فکر په لرغونی یونان کښې هم وجود درلود. چه در نسانس او مذهبی اصلاحاتو په وخت کښې بیا راژوندی شوی و. دانګلستان د اولسمې پیړۍ په انقلاب سره خلکو کښې دنشنلزم نفوذ پیدا شو. او په همدې وخت کښې په لویدیځ یورپ کښې د مطلقو شاهانو سیاسی قدرت یو نوی سیاسی شکل ته انکشاف ورکړ- چه هغه معاصر متمرکز مقتدر دولت دی. او هغه سیاسی شکل دی چه دفرانس لوی انقلاب په هغه کښې دنشنلزم دفکر ځای پیدا کړ او په هغه کښې یو داسې شعور موجودو چه ټول اتباع برخه په کښې لری- او ملیت کښې یې دعامه خلکو سیاسی او ثقافتی یو ځا یوالی ممکن وګرزاوه. دنشنلیزم له ظهور سره نور خلك په یوه ملت کښې پاتې نشول بلکه یو ملیت یې درلود.

نشنلزم او تعلیم او تربیه: په تعلیم او تربیه کښې نشنلزم له ۱۷۸۹ع کال څخه را په دېخوا ځای ونیو چه دغه کال دفرانس دلوی انقلاب کال دی له دغه انقلاب څخه پخوا په تربیوی سیستم کښې هیڅ نشنلزم نه و. نشنلزم په دغه وخت کښې په انګلستان او فرانس او په ځینې لوړو طبقو کښې موجودو خو ولس هیڅ برخه په کښې نه درلوده چه سره له دې هم که له دغه انقلاب څخه پخوا دلوړو طبقو دښوونځیو تعلیمی نصابونه وڅیړل شی دنشنلزم اثر به په کښې و نه لیدل شی. په ټولو ښوونځیو کښې ژبې- ریاضیات- دین او نور مضامین لوستل کیدل خو نشنلزم ته به هیڅ توجه نه کیدله. ملی ژبې له نظره لویدلې وې او دملیت په اساس نه لوستلې کېدې- دیورپ دلوړو طبقو په ښوونځیو کښې به چه دتاریخ درس ورکوا.

کیده د یونان او روم تاریخ و ،نه د خپلو هیوادو تاریخ

دفرانس لهلوی انقلاب سره په تربیوی سیستمو کښې نشنلستیك نظر پیداشواوخلکو هغهڅه پهلاس راوړل چه دهغهد حصول له پاره یې زیار ونهایستل اوتکلیفو نهیې ګالل-داڅه دبشرحقوق ووچهدغهحقوق سیاسی حقوق وو دغهانقلاب یوداسې و لسی حرکت وچهپه هغه کښې دفرانس زیارایستونکولهډیروبندیزونو څخه خلاصی ته نژدې شول.خوددغې انقلاب سیاسی میوې څهنا څه له خطر سره مخامخ شوې .ځکه چه د بشر د حقوق اساس به ژر دغوهیو اروته سرایت وکړی .نو دفرانس انقلاباودهغهپهنتایجویې ډیرخطیر تجاوزات اوتعرضات شروع کړل . د فرانس خلکو احساس کړهچهدخپلو نووازادیو د ساتلو دپاره باید ځانونه تیار کړی . نوملی پلټنونه یې تشکیل کړل او لهبلې خوایې فیصلهو کړه چهدنویو ازادیو دساتلو لهپاره باید مخصوص درسونه تهیهشی. پهدې ترتیب یې داسې تد بیر ونیوهچه په ښو و نځیو کښې د اسې تعلیمی نصابونه وارد کړی چه لهدغو نورو سیاسی اساساتو سره توافق ولری نوویلای شو چه دفرانس انقلاب نهیواځې نشنلزم لهلوړو طبقو څخه ولس تهمنتقل کړبلکه په هغو کښې یې ډیردیمو کراتیك پرنسیپونههم داخل کړل.

کهدفرانس لهانقلاب څخهوروستهدفرانس ګاونډی هیواد پروشیاته نظرو کړ ولید ل کیږی- کله چه ناپلیون پهپروشیا باندې حملهو کړه اودجینا (Jena) پهجګړه کښې یې پروشیاته ماتهور کړه-نوپرو شیایان ډیرژر ملتفتشول چه خپلدغهزیان باید تلافی کړی اوخپلملیموقف بیرتهحاصل کړی نو پهیولړ سیاسی اواجتماعیاصلاحاتویې لاس پورې کړ- چهتربیوی اصلاحات یې همد توجهوړ دی . دپروشیاخلکو فکرو کړچهد خپلقدرت دبیا لاس ته راوستلوښهلارداده چهډیرښهځوانان اوځوانې وروزی . نوخپل ځوانښوونکی یې پستالوتسی (Pestalozzi) ته ورواستول چه پسالوتسی پههغهوخت کښې ډیرنامتو مربی و. دغوځوانانو لهپستالوتسی څخهدنورو شیانوپه پهترڅ کښې دازده کړل چه څنګه انسانی شخصیتمنځ تهراوړی اوانسانی استعد ادونو تهڅنګهانکشاف ور کړی . پهدې ترتیب د پروشیا خلکو ډیر زر احساس کړه چه دپروشیا د قدرت داحیاء له پاره ملی دولت ضروری دی- داسې دولت چهدملت نمایندهاود

ملت خدمتګاروی اود بشرد حقو قو متعلق افکارهم په پروشیا کښې خپاره شول .

څرنګه چه دفرا نس له انقلا ب سر ه په ښوونځیو کښې ملی ژبه ـ تاریخ اود فرا نس جغرافیې ته توجه وشوه. ملی مشران معتقدوو چه ددې له پاره چه د فرا نس خلك په نو یـو ازاد یو باندې ډیرښه پوه شی اودحکومت په نوی ډیمو کراتیك شکل کښې فعال سهم ولری، په خپل منځ کښې افاده او استفاده سره و کړای شی باید په هماغه ژبې باندې خبرې و کړی . پخواله دې چه په فرانس کښې ډیرې لهجې مو جو دې وې نو وروسته له دې مشتر کـې فرانسوی ژبې ته تر ډیره حده توجه وشوه .

همدا ډ ول التفات په پروشیا کښې جرمنی ژبې ته هم وشو. او په ملی احسا ساتو کښې ملی ژبې ډ یر مقتدر ځای ونیو . په همدې ډول په تعلیم او تربیه کښې خلك داسې تحریك شول چه ثقافتی موفقیتو کښې په ویاړ برخه وا خلی . خپل تا ریخ دین او دخپل هیواد جغرا فیې سره مخصوصه علا قه ولری . په فرانس او پروشیا کښې خلك داسې تحریك شول چه په ملی ثقافت کښې د یوفټ بال دټیم په څیر برخه واخلی. دفټ بال پد ټیم کښې چه هرغړی په ډیر افتخار برخه واخلی نولوبه ډیـر ه ښه پرمخ ځی. همداډول چه د ملیت هر غړی له ملیت سره په افتخار علاقه ولری ډیرملی کارونه سرته رسیږی . په دې ترتیب دفرانس او پروشیا خلکو په خپلو ثقافتو باندې افتخار در لود چه فرانسو یانو د خپلو ارزو دساتلو لپاره او پروشیایانو د خپل موقف دلاس ته راوستلو له پاره زیاز ایسته .

پروشیاله فرانس څـخه په ملی ډیمو کراټیك تعلیم او تربیه کښې ډیره پرمخ ولاړه. ځکه دفرانس انقلا ب ډیرژر د ناپلیون په مشری د بورژوازې تر کنټرول لاندې اغی او دفرانس ملت د یو نسل له پاره خپلې ډ یمو کراټیك ارزوګانې له لاسه ور کړې . او ډیمو کراټیك تعلیم او تربیه د نولسمې پیړۍ تر وروستی وخته پورې په فرانس کښې په ښه شان سره نه لیدله کیده . پروشیایان ډ یر مو فـــق وو او دولـت دملت په خدمت کښې واقع و او پروشیا دخپل وخت ډیرمترقی تربیوې سیستم درلود. حتی له فرانس څخه هم خلك پروشیاته لاړل چه هغه موفقیتونه مطالعه کړی چه په تعلیم او تربیه کښې د پروشیا په برخه شوی وو د نو لسمې پیړۍ په او اسطو کښې دغه آزاد روح چه د ډ یمو کراټیك نشنلیزم په واسطه په پروشیا کښې پیداشوی و، شروع یې و کړه چه نتیجې ور کړی او دزیات خطر باعث وګرځید نو په ۱۸٤۷ع کال کښې انقلاب واقع شو. په دغه انقلاب کښې هغه خلك چه د ډیمو کراټیك

نشنلیزم ترو ړ انګو لاندې رو زل شوی وو غوښتل یې چه دحکومت لا ډیر ډیمو کراټیك شکل منځ ته راولی . ولې حاکمه طبقه چه په پروشیا کښې وه راضی نه وه چه دغسې حکومت تشکیل شی – یعنې هغه ډیمو کراټیك نشنلیزم چه په پروشیا کښی پیدا شوی واو دنولمسې پیړۍ په لومړیو وختو کښې شروع اوترمنځنیو وختو پورې یې دوام وکړ داسې یو نهضت وچه له پورته خوا، خلکو ته دسوغات په توګه راوړل شوی واو دخلکو له ارزوګانو څخه یې منشاء نه وه اخستی . یا په بل عبارت پروشیا ډیمو کراټیك نشنلیزم داسې شی و چه له پورته خوا نه کښته خواته ورکړی شوی و، نه داچه له کښته خوایې پورته خواته وده کړی وی . په داسې حال کښې چه دفرانس نشنلیزم له کښته خوا یعنې د خلکو په واسطه پیدا شوی او پورته خوایی وده کړې وه چه قدرت یی دناپلیون له ظهور سره له لاسه ورکړ. د پروشیا ارسټو کراټیکی طبقې کله چه دنولسمې پیړۍ په نیمایی کښې احساس کړه چه ډیمو کراټیك نشنلیزم دهغوی دقدرت له پاره خطردی نو فیصله یې وکړه چه له تعلیم او تربیې څخه نشنلیزم بالکل وباسی. د ۱۸٤۷ع کال انقلاب یې علی کړ وخپل تربیوی سیستم ته یی بله بڼه ورکړه په دغه تربیوی شکل کښې دولت دافرادو داستعدادو د آزادانکشاف وسایل نه ، بلکه دملی دولت دتربیوی سیستم هدف وګرځید. او افراد دملی دولت دلوړوالی وسایل وګڼل شول . دغه تغییر په دې علت اهمیت لری چه له دغه وخت څخه نشنلیزم خپل ډیمو کراټیك خواص بالکل له لاسه ورکړل. دفرانس او پروشیا په تربیوی سیستم کښی ملی غرور ددولت دلوی قدرت د تأمین له پاره باقی پاتې شو. دغه ډول ملی غرور خپل تأثیرات باقی پریښوول او دشوو ینزم Chavinism او فاشیزم په افکارو باندې منجر شول. ترڅو چه په شلمه پیړۍ کښې یې دوه ځله نړۍ دلویو جګړو په اور کښې ودروله. او دشلمې پیړۍ په دوهمه نیمایی برخه کښې که دولت دولس دتربیوی سیستم دوسیلې په څیروی دخلکو او ټولنو افتخارات په تعلیم او تربیه کښې ځای ولری او اجتماعې ښیګڼې منظوروی ، مطلوب او دشر داصلاح لپاره به نشنلزم په تربیوی سیستم کښې ځای ولری او که افراد دلوړو طبقو او یا دحکومت له پاره استثمار شی نو د شوو ینزم خطر به محسوس وی . څرنګه چه داستعمار دماتې له پاره نشنلیزم یو مهم قدم او یوه ډیره شدیده ضربه ده نو هر تربیوی سیستم چه دتاریخ له تقاضا سره سم دنشنلیزم دتقویې له پاره ډیره توجه لری په حقیقت کښې داستعمار دماتې لپاره سترګامونه اخلی، چه دغه هدف دواقعی او حقیقی انسانیت هدف دی . ﴿پای﴾

د دهقان لور

عشقي، کمیدي، اصلاحي، انتقادي ډرام په څلور پردو کښې.

لیکونکي: عبدالروف «قتیل» خوږیاڼي

«اوله پرده»

خلك

ګلالۍ :- دیوه غریب دهقان پېغله لور.

غمي :- دیوه سوداګر زوی.

ځای

دغره لمنه اوچینه.

خبرې

(کله چه پرده پورته کیږي ګلالۍ چه د خیرنو جاموغوټه ئې په سر ایښې ده او یو څو پسونه ئې د پیولو لپاره دغره لمنې ته راوستي دي ولاړه ده ګلالۍ پسونه پریږدي چه څریږي او پخپله د چینې په غاړه چه دغره په لمنه کښې واقع ده کښیني او کالي وینځي په دې حال کښې غمي چه د ښکار ټوپك ئې په لاس کښې نیولی او بل سر ئې په اوږه ایښی دی راروان دی راځي. چه په دې وخت کښې ئې سترګې د ګلالۍ په ښکلي او ګلابي مخ لګیږي. وړاندې ورځي او ورته وائي چه :-)

غمي :- پېغلې، او پېغلې!

(ګلالۍ په ډیره پاکۍ او دعفت نه په ډك نظر مخ ورته راګرزوي ورته وائي چه :)

ګلالۍ : هن څه خبره ده څه وایي ځوانه !

غمي :- زه پردیس مسافریم په ښکار پسې راوتلي یم ډیر تږي یم که لږې اوبه راکړې.

ګلالۍ :- اوبه (له لږ فکر نه وروسته) ښه (داوبو کنډول ورته نیسي وائي چه :-)

هن دا اوبه ونیسه.

(غمي د مخ دورګرځولو سره لاس ورغځوي خو چه سترګې ئې د ګلالۍ په ښایسته

اوښکلي مخ بیا لګیږی ر سا د زړه په سرسوری کیږی د مخ په ننداره کښې ئې له ځانه وځی او ستر ګې ئې په ستر ګو کښې داسې ورښخوی لکه چه د ی دخپل ژوند راتلونکې شپې اوورځې د هغې په ښکلي مخ کښې لټوی . مات او مبهوت پاتیږی او د خیال په سمندر کښی لا مبو وهی . د عشق او مینې په ځپانده اباسین کښې لا هو کیږ ی)

ګلا لی:-واخله کنه اوبه څښې که نه !ولې دو مر ه لړ زیږ ې؟ - دا په څه شی کښې فکر کوې؟

(غمی د ګلا لی په آوازتکان خوری لکه سړی چه له خوبه رابیدار شی، بیداریږی خپل حو اس راټولوی اوورته وائې چه:-)

غمی :- په هیڅ کښې فکر نه کوم ... ښه را که (لاس وراوږدوی او بیائې ستر ګې د ګلا لی د سپین مخ په ننداره کېږی. ګلالی داوبو ډك کنډول په لاس کښې ور ته ږدی مګر څنګه چه غمی په بله د نیا کښی په نا بلدانداز چکروهی، کنډول ئې دلا سه لویږی اوماتیږی.د کنډو ل دماتېدلو سره سم غمی بې هوشه کیږی او په ځمکه را پریوزی ګلالی په وارخطائی سره راپورته کیږی او وائی چه:)

ګلالی:-وی خدایه!زمونږ دغریبی دایو کنډول ؤ دا هم مات شو زه به مورته څه ځواب وایم اوڅه بانه به کوم چه کنډول څنګه مات شو .

(غمی په زمکه پروت د ی دم قد م یې نه خیژی ګلالی زړه نازړه ورته رانژدې کیږی او دځانه سره وائی: -)

ګلالی:-وی څنګه ښه زلمی دی دا به د کومې باغچې ګل وی ،په ده څه چل وشوداخو روغ جوړو (پس له لږ فکر.) لکه چه داعاجز تندې وارخطا کړی دی .

(داوائی او دغمی سرد ځمکې څخه راپوزته کوی او پخپل زنګانه یې ږدی،لاس پښې اوزړه یې مږ ی ، مګر غمي چه څنګه په یوحال پروت دی هماغسې پروت دی ستر ګې نه غړ ُو ی ګلالی د ځانه سره فکر کوی اووایی چه).

ګلالی : - دا زلمی خو ډېر تږی ولکه چه دتندې له لاسه یې ضعف کړی وی (دغمی سر په قراره په ځمکه ږدی ا و خپله په اوبو پسې ځی خوچه د ګلالی شا غمی ته کیږی ،غمی سرورپسې راپورته کوی او ورته ګوری . ګلا لی په خپله ناز نینه لپه کښې او بهرا اخلې اورارو انیږی غمی بیر ته

پر بوزی. ګلالی دخپلې لپې نه او به دغمی په خوله کښې وراچوی او لانده لاسونه دهغه پرمخ ورځنډی او مخ ته یې ګوری. ګلالی یې دښکلې مخ په لیدو زړه بایلی، غمی ورو ،وروستر ګې خلاصوی ګوری چه سر یې د ګلالی په زنګانه ایښی دی او ګلالی یې مخ ته ګوری. ګلالی چه دغمی خلاصې سترګې وینی اوسره سترګې په سترګې کیږی په مخ کښې یې د خوشالی نښې ښکاریږی،موسکی کیږی او د موسکا په حالت کښې په ډېر نازسره مخ ګرځوی)

غمی:— زه چېرته یم ؟

(بیاهرې خواته وارخطا وارخطا ګوری)

ګلالی:- زلمیه ته رابیدارشه ، سترګې وغړوه چه زما د کالیو ناوخته کیږې بېرته مې بیړه ده.

غمی:— ته څوک یې اودلته څه کوی ؟

ګلالی:- زه یوه غریبه پېغله یم او دلته د کالیو دوینځلو لپاره را غلې یم .

غمی:—ښه ته کالی وینځې؟خوزه دلته څنګه اودځه لپاره راغلی وم ؟

ګلالی:—ته . . . زه نه یمه خبره . . .

هو! رښتیارا په یادشوه تا وې چه زه په ښکارپسې راوتلی وم ډېر تږی یم که لږې او به را کړې .

غمی:— ښه نور ... بیاڅه وشوه ؟

ګلالی:—ماداو بوډك کنډول در کړو . کنډول دې له لاسه ولویدو او مات شو بیا پوهه نه شوم چه په تاڅه چل وشو خو په ځمکه راولویدې ماوې چه په کنډول به د کالیود پاسه او به اچوم هغه تاراته مات کړو .

غمي:— کنډول دې په خواخیستی ؤچه تاوان یې در کړم .

ګلالی:- تاوان ...هه... نه تاوان یې څه کوم ماوې چه اوس به کالی په څه شی وینځم ،

غمی:-ته ترهغې زما داخولی واخله او به په کښې رااخله زه به اوس بل کنډول درته راورسوم ،

ګلالی: کنډول دې په بلا ووهل شی دابنه شوه چه ته خدای ښه کړې . خولی دې خدای په تاپېرزولری،خولی به دې ولې خرا بوم .

غمی:—ښه نو کنډول خو، به درته راوړم .

ګلالی:—نه !تا،دې خدای ښه ساتی زه به په خپلو لپو او به را آخلم .

غمی:-ښه نومورته به دې څه ځواب وایې چه کنډول څه شوځابانه به ورته کوې .

ګلالی : مورته به دابانه و کړم چه کنډول مې له لاسه ولویدمات شو .

غمی:ـ درحم او عاطفي څښتني پېغلي! خدای دې لتاسره ډېر ښه وکړی .

ګلالی:ـ ښه نو، نورخو، ښه شوې اوس که د دې ځایه لاړشې ښه به وی. ځکه چه که څوك را شی اوتا دلته وګوری نوم بم بدشی .

غمی:ـ نوم بم بدشی ؟ هاهاها (په زوره خندا) لیونی نوم بدوالی په مینه کښې هیڅ اهمیت نه لری .

ګلالی:ـ مینه ... مینه څه شی ته وائی؟

غمی:ـ زه په ښکار پسې را وتلی وم خو ...

ګلالی:ـ خو... څنګه؟

غمی:ـ په خپله ښکارشوم . ښه ته دچالور ئې ؟

ګلالی:ـ زه .... (په فکر کښې) هو ! رښتیا زه دلنډی ماما لور یم.

غمی:ـ ښه هغه دګاروز خان دوی دهقان چه دی. ډېر ښه ډېر ښه !دحیااو عفت میرمنې زه به درنه لاړشم. خود پاکې مینې په خاطر مې له یاده، ونه باسې تر بیا لېدو پورې د خدای پامان .

ګلالی:ـ په خدای دې سپارم.

(غمی ځی او ګلالی دځانه سره داغزل وائی)

« غزل »

ښکلی بهار دی راشه صنم
وطن ګلزار دی راشه صنم

څه ښه موسم دی څه ښه هوا ده
په ګلوفرش نن دښت اوصحراده
و صلت تیار دی راشه صنم

ته مې بلبل او زه دې ګل یم
بې لتا یاره په غم کښې تل یم
زړه مې بیمار دی راشه صنم

دمینې یاره مینې ته سا زشه
لری مې غم کړه زما همراز شه
زړه مې دا عدار دی راشه صنم

تا نه قربان شم تا نه فدا شم
مر مه « قتیله » زه چه جدا شم
زړه نا قرار دی را شه صنم

(دغزل دخلاصېدو سره پرده کش کیږی)

(داولې پردې پای)

دوهمه پرده

خلك

۱ـ خان لالا:ـ دغمي پلار

۲ـ غمي:ـ دخان لالا زوی

۳ـ توری:ـ دخان لالا نوکر

٤ـ دلیل شاه:ـ فالبین او کوډګر

ځای

(یو عالی کور له عالی لواز موسره)

خبرې

(دپردې دپورته کېدوسره سم توری د کوټې په پا کوالی بوخت دی او دځان سره وائی چه:ـ)

توری :ـ نن خومې زړه دی چه خان لا لا ته یوه خبره وکم که وئې منی ـ څنګه به ئې نه منی ،مجبور دی چه وئې منی دومره کارونه ورته کوم زما به دایوه خبره نه منی وا لله چه وې نه منی که کارئې وکم. زه خوئې څه نوکر نه یم چه کار به ئې کوم او خبره به مې نه منی . (دځان سره)

خان لالا په کوڅه ولاړ نه وی چه خبرې مې وانه وری روزی به مې ورکه شی.

(په دې کښې خان لالا راننوزی او وائې چه:)

خان لالا:ـ توره بیاڅه دځان سره لګیا ئې.

توری:ـ خان لالا ،خانصا حب سلا م ا لیکم . خانصا حب (په وارخطا یی) .

خان لالا:ـ والیکم سودائی ئوی ئې که څنګه چه دځان سره لګیائې، څه دې وې؟

توری:ـ هسې دسرده دا دې څه شی نه ؤ.

خان لالا:ـ آخر یوڅه شی خو، به ؤ څه دې وایه وګورم چه څه وائې ټول عمر خوچتیا ت وائې که نن درنه سمه خبره ووځی .

توری:ـ خان لالا زه خو ګوره ټول عمر ښې خبرې کوم خو تاسې ته ښې نه ښکاری نو.

خان لالا:ـ ځه ته ووایه چه نن څه وائې خوچتیات به نه وائې.

توری:ـ دچتی خلکو تل دچتیا توسره سراو کار وی که زه دومره پوی سړی وم او تالیم مې په مرتب کښې کړی وای نو اوس به مې دمزدوری نه څه غوښتل .

خان لالا:ـ ته اوس فلسفه پرېده ا صل خبره وکړه .

توری:ـ خان لالا باداره زما خبره خوشرطلری،

خان لالا :ـ څنګه شرط ؟(په غصه کښې) .

توری:ـ باداره په غوصه کیږه راته مه چه بیامې خبره نه یاده وځی .

خان لالا:ـ ښه ته اوس خپله خبره کوه.

توری:ـ بې شرطه ئې نه کوم.

خان لالا:ـ څنګه شرط ؟

توری:ـ داسې شرط چه خبره خودرته کوم خو په دې شرط چه وې منې مجبور ئې چه وې منې څنگه بدئې نه منې (په جذبه کښې) .

خان لالا:ـ مجبور .... تور یه (په غصه کښې).

توری:ـ نه نه خان لا لا مجبور نه ئې یو بد رانه وشوه نو.

خان لالا:ـ وایه ورك شه څه وائې بد بخته خبره خوو کړه .

تورې:ـ باداره خبره خو داده چه غمی با دار مې اوس که خیر دخدای وی زلمی دی په کوم ځای کښې د ښځې مځې درك ورته کوه.

خان لالا :ـ ایله چه نن دې ښه خبره و کړه .

توری:ـ اینې زه خووایم چه زه ښې خبرې کوم.

خان لالا:ـ ښه توره تاته خوواده ونه کړم .

توری:ـ هن، هن (په خندا) مو نږ بم دوادرته کوو.

خان لالا:ـ توره غمی ته خو مې لا په وړ کتوب کښې د خپل تره اور په نامه کړې ده . نن سبا به ئې ښکاره کوو اوواده به ورته و کړو .

(په دې کښې غمی په پرېشانه حال اوالوتې بڼه زنگېدلی راننوزی سلام ئې هم له یاده وځی)

خان لالا :ـ بچو ستړی مه شې .

(تورور جگیږی ټوپك ترې اخلی اود کټ دپاسه ئې زدی.)

توری:ـ باداره نن خودې دارنگ داسې الوتی غوندې راته ښکاری خدای دې خیر کړی .

خان لالا: ـ بچیه ر ښتیا و و ایه څنگه دې رنگ خراب دی دچاسره خو به دې جنگ نه وی کړی .

غمی:ـ نه پلاره لږ ستړی شوی یم دغره لمنې ته ښکار ته تللی وم .

توری:ـ باداره مام کټوی ورته دوخته وینځلې ده چه اوس به مې بادار دښکار مرغی راوړی .

خان لالا:ـ ښه څه ښکار دې و کړو که نه.

غمی: دښکار درك ونه لگید وخوزه. . .

(نور چپیږی)

خان لالا:ـ خو ته څنگه؟ لکه چه ډارشوی ئې .

غمی:ـ نه پلاره ډارشوی نه یم خو ښکار شوی یم .

توری:ـ بادار جانه چرت مه خرابوه زه دیم په غم کښې لگیایم . . .

خان لالا:ـ چپ شه وراڅه اوسقاله (په غصه کښې).

توری:ـ چپم شم ور کم شم، عجب؟ ؟

خان لالا:ـ ښه زویه ! څنگه ښکار شوی ئې ؟

غمی:ـ پلاره څه غم ئې کوې په ښکار کښې ډېر تږی شوی وم دغره لمنې ته د او بو لپا ره راستون شوم هلته مې یو بشرو لید لو چه تر اوسه په حال کښې نه یم .

خان لالا :- ولې څه شی ؤ څه بلاوه که څنګه چه بې حاله ئې کړې .

توری :- الله خد ایه ! خان لالا لکه چه بادار مې وارشو ی وی ته ودرې چه زه په دې بلا پسې ورشم چه زما بادار جان ئې څنګه وې رولی دی.

خان لالا :- تور یه بد بخته (به غصه کښې) چپ شه (بیا مخ غمی ته را ګرزوی.) ښه بچې .

غمی :- پلاره بلا، بلا نه وه یوه د حسن ملکه او پیغله وه چه دهغې په لېدلو مې زړه په ګو ګل کښې نشته پیغله نه وه ښا پیری وه ښا پیری.

توری :- ښا پیری وه باداره ماترا وسه ښا پیر ی نه ده لیدلی کاشکې چه زه دیم بیو لی وم سیل خو، به مې کړی ؤ .

خان لالا :- توریه چپ شه بد بخته مه غز یږه چه زه ځان په حال پوی کړم .

(بیا نو غمی ته وائی چه :-)

ښه زویه ! څوک وه ودې پېژنده او که نه ؟

توری :- که دې نه وی پېژندلې نښه ئې را که چه زه ورپسې لاړشم .

غمی :- هو پلاره ومې پېژندله .

توری :- چه پېژ ندلې دې ده نو ماته حاجت نشته

خان لالا :- چپ شه او سقاله .

توری :- ښه ده دا زه چپ ماوې چه د بادار غم مې و کم.

خان لالا :- تا ته حاجت نشته . ښه بچو څوک وه... د چالور وه ؟

توری : - عجب د چالور وه خو چه ښا پیری وه د ښا پیری لور وه .

خان لالا :- یره (په غوسه توری ته ګوری) .

غمی :- پلاره دلنډی ماما لور وه .

توری :- (په خندا) دلنډی ماما لور باداره هغه خو ښا پیری نه ده هغه خو نجلی ده کنه .

خان لالا :- هغه د ګلروز خان د دهقان لور؟ توره واوره هغه اوس ښا پیری شوه .

توری :- زه ئې اریان کړم چه دا ښا پیری څوک شوه هغه خو تمامه ورځې پرډی پاده پیائی .

غمی :- (توری ته بد بد ګوری او بیا وائی) .

هو پلاره زما د هماغې سره مینه ده که ښځه راته کوې بې له هغې نه بله ښځه نه کوم .

توری :- باداره جانه دلنډی دلور نه تیر شه زه به اوس د هغې خولی ته ناست وم او و کمونه به ئې په ځای کوم .

خان لالا :- بچو ته لېونی کیږه مه مادر ته د اسې ښځه کړې ده چه ګلالی ئې په ګرد کیم نه ده .

توری :- رښتیا وائی باداره! داسې ښځه ئې درته کړې ده والله چه په خوب کښې ئې وګورې چه ورنه وخوډارشې.

خان لالا :- کینه دډار زویه تم دخبروشوې.

غمی :- نه پلاره زه بل څوك نه کوم زه دګلالی سره مینه لرم .

خان لالا :- زویه ستا اوس دانیت دی چه ماپه پنځو کسو کښې و شرموې دخپل تره لوردې لهوړ کتوبه په نامه ناسته ده .

توری :- هو کنه باداره دا اوس غواړی چه ماپه پنځو مزدورانو کښې وشرموی خلک به وائی چه تور ګل دلنډی دلور مزدوری کوی .

خان لالا :- ستا اختیار زماپه لاس کښې دی ته د ښځې په انتخاب کښې هیڅ حق نه لرې .

غمی :- داپه عشق اومینې ظلم دی اوپه محبت پورې مسخرې اوملنډې و هل دی . تاسې ولې دخپل اولاد آینده په خطر کښې آچوی ء اوپه وړ کتوب کښې ښځې ورته کوی ء ؟.زه دا ظلم نه شم منلی . پلاره اجباری ازدواج ډیره بده نتیجه لری داپه کوم قانون او کوم دین کښې روادی چه نجلیا نې دصغارت په وخت کښې دیو اوبل په نامه کوی ء اخرپه نکاح کښې دښځې اومیړه ایجاب اوقبول شرط دی .

خان لالا :- داخبره هیڅ امکان نه لری ته لېونې شوی ئې لېونی شوی . ته خوشرمېږې نه،مابه وشر موې .

ته پخپله دځانه سره فکر وکړه چه ته دتجار زوی او ګلا لی دیوه غریب دهقان لورلتاسره جوړ یږی ؟ زه خپل نوم په غریب سړی نه خرا پوم سبابه تر بوران راته پېغور کوی چه دپلانی وسه نه کېده زوی ته ئې دلنډی لور و کړه .

غمی :- پلاره عشق پاك دی ، مینه پاکه ده . رښتیا چه دخوارحسن،دنیاپرستانو اودغرض څښتنانو ته بې قدره اوهیڅ ښکاری .خو مینه خواره نه ده مینه داسې رسوخیت دی چه ډیر مقتدر رسوخیت ئې له مقابلې نه عاجزدی . دعشق اوپاکې مینې په مقابل کښې عقل هیڅ اهمیت نه لری هغه دملنګ جان خبره چه :

عقل کله هومره نردی چه عشق وباسی دزړه نه سرومال ئې صدقه کړ ومجنون ځکه تر چلتاره، زه دګلا لی سره مینه لرم او دا مینه مې هیڅ طاقت له زړه څخه نه شی ویستلی..

هوزه مینه لرم خوپا که مینه ..... مینه

گناه نه ده ..... مینه لیونتوب نه‌دی....
مینه دا سې پاك لېونتوب دی چه د دنیا
هوښیاری ورته مسخره ښکاری . . . . . .
ها ها ها « په زوره خندا » مینه گناه
نه ده . . . . نه کوم . . . هاهاهازه دخپل
تره‌لورنه کوم . . . . ها ها ها و گوریء
زما گلالی .... هغه‌ده زما گلالی ... .
ای دړانده تمییز څښتنا نو و گوریء
زما گلالی و گوریء.

توری:- خان لالا لکه چه‌دغمی بادارسره‌مې اثر
یوځای شوی‌دی لاړ به‌شم یوفالبین به‌راولم
چه په کتاب کښې ئې و گوری .

خان لالا:- رښتیادې ووې توره زرشه‌دلیل‌شاه
پسې لاړشه ورته‌ووایه چه خان لالا دخپلو
کتابونوسره په‌چټکی غوښتی ئې زرراشه.
(تورپه‌دلیل‌شاه پسې ځی)

غمی:- هاهاه (په‌زوره‌خندا کښې)راشه‌پلاره
راشه و گوره‌هغه‌ده. .. .هغه‌ده زما گلالی
هاهاها . . . . . راشه‌زما گلالی راشه....
(په‌دې کښې‌دلیل شاه‌په کومیك‌لباس کښې
دلویوتسبواو کتابونوسره راننوزی)

دلیل‌شاه :- اسلام علیکم ورحمةالله و برکاته
و عم نواله خانصاحب په نور چشمی او
قرةالعین اعنی غمی‌جان باندې څه چل
شوی‌دی‌چیرته‌تللی ؤ .

خان‌لالا :- دغره لمنې ته په ښکارپسې تللی‌و
هلته ئې د چینې او به څښلې څه شی‌ئې
لیدلی، دلته‌چه راغی بیخی په‌سد کښې نه‌دی،
اپلتې کوی‌نه پوهیږم چه‌د اولې .

توري: -اکیم صیب هلته ئې ښاپیری لېدلې
ښاپیری .

(دلیل شاه کتاب خلاصوی او سر پرې
ور کښته کوی بیاوائی چه)

دلیل شاه:- خانصاحب ستاسې دنورچشمی نوم
څه دی

خان لالا:- نوم یې غمی دی .

دلیل‌شاه:- دبی‌بی‌نوم‌اعنی دغمی‌جان دوالدې
صاحبې‌نوم څه دی؟.

توری:- اکیم‌صیب خوله ونیسه څه چټیات
وایې دخان لالا دښځې‌نوم‌څه کوې دپلار
نوم ئی ولیکه، که بیادې دا خبره و کړه
خوله‌به‌درباندې‌ماته کړم.عجب!وړه خوله
لویې خبرې .

دلیل شاه:- چپ‌شه بدبخته گستاخه په رمل
کښې‌دابجد دحساب‌لپاره دوالدې صاحبې
نوم په کاریږی .

خان لالا: - ورك یې کړه دا بېسواده په دې
خبرونه پوهیږی دمور نوم‌یې څنه ده.

دلیل شاه: - څنه اگرچه خان صاحب «ث» او «ن» په ابجد کښې ډېر سخت دی خوشه وکړم ستاسې خاطر را باندې ډېر گران دی که په هر څومره زحمت سره کیږی هم په کښې پیدا به یې کړم.

خان لالا:- حکیم صاحب کوردې ودان لږ ځان په کښې پاداب کړه زیات به دې خوشاله کړم.

دلیل شاه: - خانصاحب تاسې بېغمه اوسیء زماخپل وراره دی.

(داوائی اوبیا په تسبو باندې دابجد حساب تکراروی اوطرحه کوی یې بیا کتاب ته ګوری اووائی چه:-)

دلیل شاه: - کتاب وائی چه غمی خان چه دکومې چېنې نه او به څښلی دی په هغې چېنې کښې ښاپیری لامبلی و، ده چه او به څښلې ښا پیری یې په زړه ناسته ده.

توری:- په ډېر دې رحمت شه اکیم صیب ته خوبېخی بزرگ یې بزرگ خواوس یې علاج (په دې کښې غمی ته بیاد ګلالی ښکلې اوزیبا څېره ستر ګوته کیږی.)

غمی:- هاهاها (په زوره خندا) هغه ده زما ګلالی! راشیء راشیء و گوریء زما ګلالی وګوریء.

(دلیل شاه ورپاڅیږی دایره ورنه چاپیره وباسې په دم او دعا شروع کوی خوچه تأثیر نه کوی نو وائی چه:-)

دلیل شاه: - خانصاحب دده ښاپیریا ن ډېر زور ورد ی ترڅو چه دی کټ پورې ونه تړل شی ترهغې نه قراریږی واخلیء او د کټ پورې یې وتړیء.

(توری او خان لالا دواړه غمی په کټ کښې کلك تړی نو دلیل شاه وائی:-)

دلیل شاه:- خانصاحب داپنځه څاښتونه دی او داتعویذدی، څاښتونه پنځه وخته په یوه پاله او بو کښې او به کویء اوور کویء یې سمد ستی داتعویذ واخلیء درې پوښه ور کړیء خوچه تورپوښ نه وی په غاړه کښې یې ورته واچویء. انشاء الله چه ښه به شی او که غوا ړې چه د زوی دې سم علاج وشی نویو دانه ملاچرګك او یوه دانه دوه کلنه توره چرګه را پیدا که چه کلك تعویذ ورته وکړم.

خان لالا: - توره ملاچرګك به چېرې پیدا کړې.

توری:- خان لالا دا باد گزوی باد، په دې وخت کښې ملا چرګك چېرته پیدا کیږی.

خان لالا:- حکیم صاحب ته پوهیږې او کاردې.

که تاته مالوم وی زه به یې پیسې در کړم وایې خله .

دلیل شاه :- خانصاحب ماته معلوم د ی دیوه سړی سره شته خوددوه نیم سوو روپیو ، نه یې نه کموی .اوتوره چرګه دیوه بل سړی کره شته په پنځوس روپی یې ور کوی.

توری:- دا خویوازې دملا چرګك اوچرګې د رې سوه روپی شوې چه دده شکرا نه به لیا ځومره کیږی.خوزه ورسره شریك ځکه یم چه ماراوستی دی (دځانه سره)

خان لالا:- بلاورپسې واخله دا پیسې درسره ته یې په خپله واخله .

دلیل شاه :- خانصاحب داخو دملا چرګك اوچرګې بیه شوه ماته به هم د رې سوه روپی را کې .

توری:- درې سوه ته خو دومره ماتل و کړه چه بادارجان خومې نه شی بیا به گورو

دلیل شاه:- گستاخه بدبخته ته په دې خبرو نه پوهیږې دا روپی خو، زه د ځان لپا ره نه غوا ړم چه د ځان لپاره ئی غواړم دا هماغه ښاپیریانوته ور کوم چه خو له یې بنده شی اومخه و کړی .

توری:- ښه په ښاپیریانو کښې هم دابد مرض شته هغوی هم په رشپت اخته دی .

دلیل شاه : - هو کنه نیك بخته هیڅ کار بې واسطې نه کیږی دهر کارلپاره یوه وسیله او ذریعه په کارده. کم عقله رشپت نه دی رشوت د ی .

توری-- الله توبه خدایه توبه ماوې که یوازې دازاړه میرزایان په دې مرض اخته دی .

یره خانصاحب وریې کړه چه اوس یو کار و شی .

(خان لالا دلیل شاه ته شپږ سوه رو پی ور کوی دلیل شاه وځی اوپرده کش کیږی)

﴿ د دوهمې پردې ختم ﴾

«دریمه پرده»

خلك

۱- غمی:- دمینې لېونی

(۲) گلالی:- غریبه پېغله

۳- خان لالا:- دغمی پلار

ځای

«عیناً داولې پردې په شان»

خبرې

(دپردې دپورته کېدوسره پیوسته غمی چه دعشق اومینې له لاسه لېونی شوی دی ولاړدی اود گلالی دراتلوانتظارباسی! غمی دځانه سره وائی چه :-)

غمی :- په ناقابل طبیب مې سر دی
رنځ مې دزړه دارو دستر گورا کوینه .

(اوبیاد گلالی په انتظار کښې لاندنی غزل وائی)

غزل

دمینې اندازه مې په جنون ولگېده
دعشق اوازه مې په گردون ولگېده
عالم لېونی شوی پاکه مینه گناه بولی
خودمینه له ودانې په هامون ولگېده
غریبه مینه نه لری قیمت ماده پرست ته
بې دردو ته ژړا مې دیگر گون ولگېده
رنځوریمه دمینې کوښښ مه کوه فالبینه
جوړېږم که وږمه دپیوستون ولگېده
دمینې حرارت په جادو، نه شی سړېدی
همدغه عقیده مې په ژوندون ولگېده
په خیال کښې ننداره وه چه شوه تېره بیارانغله
«قتیله» وصل گاه مې په بیلتون ولگېده

(دغزل د خلاصېدونه وروسته دځان سره وائی چه) عجبه زمانه ، عجب مخلوق او عجیب روز گار دی مینه لېونتوب بولی ، عشق ورته گناه ښکاری ، د غریبو غریبه مینه-دې ماده پرستانو ته کوم اهمیت نه لری په مین د اثری او پېریانی گمان کوی ... هن (په خنداسره) څه لېونی دنیا او څه لېونی مخلوق دی-ای دپاك عشق اوپاکې مینی خالقه ... هومینه تاپیدا کړې ده اوستا دا لوی جهان په مینه ودان دی لږخو دا بې دردان دمینې په قدر پوه کړی... داچه دې بې دردانو ته خوارحسن دومره بې قدره دی چه قرابت یې د ځان توهین گڼی نوتااې د کائناتو پروردگاره! حسن ولې دو مره خوارولو... حسن خوستا تخلیق دی نوستا... هور به ستاد تخلیق سره مینه درلودل دې بې دردانو ته ولې گناه اولوی جرم ښکاری، څوك چه زړه لری هغه به ضرور مینه لری ځکه چه زړه دمینې کوردی...مینه انسانی شرف دی...مینه انسانیت دی...اود انسانیت احترام په مینه

ساتل کیږی... یا خودا بې دردان زړه نه لری او یا خو بې زړه د صحرا له تورو کاڼو څخه سخت دی. زه ... هوزه اې پرو رد ګاره ستا په خلقت مین یم خو پاك مین . زه مینه لرم خوپاك که مینه ... زړه لرم خوپاك زړه او له پاکې مینې ډك .

(غمي دځان سره لګیادی په دې کښې ګلالی چه منګی ئې په او زه ایښی د ی راځی خوچه د غمی ستر ګې پر ې نښلی و ر ته وائی چه:ـ)

غمی:ـ ګلالی ماستا لپاره ډېرانتظارو کښوښه شوچه خدای دې او به په کار کړې اوراغلې .

(ګلا لی منګی دچینې په غاړه ږدی اوغمی ته وائی چه :ـ)

ګلالی:ـ ګرانه غمیه! زه په دې پوهیږم چه ته له ماسره مینه لرې خو په دې هم یقین لرم چه زماسره ستامینه ستا ځوانی خرابوی .

غمی:ـ ګرانې ګلالی زماځوانی بې له تا نه بې خونده ده زماځوانی به هلته ځوانی شی چه زمامینه کامیابه شی او خدای تا زما په قسمت کړی ...

ګلالی:ـ زه لتاسره مینه لرم ...خوداسې مینه چه په نفسی اغراضو نه ده لړلې زه پښتون یم او مینه مې پښتنه ده... تاته خو به دا پوره ښکاره وی چه پښتنه مینه له هرډول شومو او ناولو خواهشاتو څخه پاکه وی ...زه به په هغه وخت کښې افتخار کوم چه ستاله خولې نه واو رم چه «زه هم له تاسره مینه لرم» بیا که د ټول جهان دټولو بې دردانو کوښښو نه را پسې شی زما او ستا مینه به نا کامه نه کړی. څنګه! ایاته له ماسره مینه لرې؟

(ګلالی له حیانه ستر ګې کښته ا چوی او هیڅ نه وائی) .

غمي:ـ څنګه غلې شوې وو ایه کنه! ایاته له ما سره مینه لرې ؟

ګلالی:ـ (په لږ زنده اواز) هو... زه هم له تاسره مینه لرم ... خو غریبه مینه دنیاپرستو ته هیڅ اهمیت نه لری (ستر ګې له اوښکو ډکې) زه دغریب دهقان لوریم او ته دماړه سوداګر زوی ئې ستاپلار هیڅکله په دې نه راضی کیږی چه زه ستادژوند ملګرې شم .

غمي:ـ ګلالی! دنیا او دولت دپاك عشق او پاك محبت په مقا بل کښې هیڅ اهمیت

نه لری زما د ژوندون ټوله دارائی
ته ئې، بې لتانه زما ژوند غریب ژوندی
چه ما ته کوم قدر نه لری زه به په هغه
وخت کښې په ژوند افتخار کوم چه ستا دمینې
دبن مالیارشم. ته په دې یقین ولره چه د زمانې
د زامنو زوراو تشدد ستامینه زماله زړه څخه
نه شی ویستلی ....
زه مرګ منم خوله ستا څخه بیل ژوندون نه شم
منلی ته چه زما پر خواوې زه په هیچا چرت نه
خرابوم خو ګوره چه ته رانه وانوړې اوما
د فراق او بېلتون په لمبو کښې دابد لپاره ونه
سوزې.
ګلالی:- غمیه ماتر اوسه پورې تا ته دخپلې
پا کښې مینې اظهار نه شو کولی... له کومې
ورځې څخه چه مې ستا ښکلی مخ لیدلی دی
له هماغې ورځې څخه مې زړه په ګوګل
کښې نشته.
غمی:- زه په دې پوهیږم چه ته هم له ما سره مینه
لرې خود مینې د ثبوت لپاره په کار دادی
چه زما مینه ومنې اود زړه په پردو کښې ځای
ور کړې اوزما مینه ناکامه نه کړې.
ګلالی :- ستا مینه ماته زیات قدر ځکه لری
چه ماته خپله مینه زیاته قدر منه ده خو ته
دومره و کړه چه زما پلارته یو څو کسه
ورولیږه اومایه شرعی نکاح ترې وغواړه.
غمی: دا کار خو به زه و کړم مګر ښکلې ګلالی
که پلاردې داو نه منی او تا رانه کړی نو په
هغه صورت کښې به بیاڅه کوو.
ګلالی:- غمیه په مینه اومحبت کښې په اغزیو
ختل هم اسانه کار دی ته خومې پلار ته
یوڅو کسه ورولیږه یقین لرم چه پلار به مې
انکار ونه کړی.
غمی:- فرضاً که پلاردې زما جرګه ونه منی.
ګلالی:- که پلار مې ستا جرګه ونه منی نو بیا به....
(داوائی چه د غمې پلار خان لالا راځی خو چه
غمی د ګلالی سره ګوری په غمی باندې په
غوسه کیږی او وائی چه:-)
خان لالا:- غمیه یوځلې مې درته ووې چه دې
بدبختې او ګدانجلی نه لاس واخله خو ته
بدبخت ټوله ورځ په دې بدبختیو پسې ګرزې.
غمی:- پلاره په دې کښې د بدبختی څه سوال
دی. دا بدبختی نه ده سعادت دی، نیکمرغی
او نیک بختی ده، مینه ده او محبت دی. په
مینې اومحبت پورې ملنډې وهل، ګناه ده
جرم دی او خیانت دی:
خان لالا:- دخیانت بچیه (په غوسه کښې:-

بیا ګلالۍ ته مخ را ګرزوی چه)

اودلنډی لورې! څوځلې مې درته ووې چه زماله زویه لاس واخله زمادزوی ځوانی مه خرابوه که بیامې ددې ځای په شااو خوا کښې ولیدې بیابه درسره ګورم .

ګلالۍ:- خان لالا زه نه پوهیږم چه دغریبو غریبه مینه تاسې ماده پرستوته ولې قدرنه لری سرونه پرېکول اومینه وژل تاسې بې دردانو ته ګلونه ټولول ښکاری. نن که ته دزوراوزر چښتن ئې سبابه دلوی څښتن او دهغه پروردګار په حضور چه زما دمینې خالق دی څه ځواب کوې .

خان لالا:- چپ شه سپین سترګې نجلۍ .

(غواړی چه په ګلالۍ د څپېړې ګوزار وکړی خو غمی وروړ اندې کیږی او ورته وائی چه: -)

غمی:- خبردار پلاره چه زماد ګلالۍ سره غرض ونه کړې! زه د ګلالۍ سره مینه لرم او بې له ګلالۍ څخه بل څوك نه غواړم... نه غواړم.. بل څوك نه غواړم.

خان لالا:- چپ شه بدبخته سپین سترګیه .

(په غوسه کیږی او په مخ یوه سخته څپېړه ورکوی غمی واخ وائی لاس مخ ته وروړی خان لالا ئې له لاسه نیسی او دځانه سره ئې بیائی)

پرده کش کیږی

څلورمه پرده

خلك

۱- غمی:- دخان لالا زوی.

۲- ګلالۍ: پېغله .

۳- توری:- دخان لالا نوکر.

ځای

(یو کټ او دوه بسترې، دځمکې مخ په سطر نجی باندې فرش شوی دی)

خبرې

(کله چه پرده پورته کیږی غمی چه د ګلالۍ خپلې ښځې سره په یوه کوټه کښې په خوب وېده دی چیغه وهی را بیداریږی. په کټ کښې نیغ کښېنی او خپل مخ په لاس نیسی . ګلالۍ دغمی په نا څا په چیغه راویښیږی او وائی چه:)

ګلالۍ:- ولې څه چل دی په خوب کښې وډار شوې که څنګه ؟ .

(غمی خپلې سترګې بې واره، بې واره مښی او ګلالۍ ته په ځیر، ځیر ګوری او وائی چه:)

غمی:- ګلالۍ دا ته ئې ؟

ګلالۍ: هودازه یم ولې لېونی شوی خو، نه ئې

غمی:- لېونی شوی خو، نه یم مګر داسې خوب مې ولېدو چه دلېونتوب نه زیات لېونی ؤ .

ګلالۍ:- څنګهٔ خوب ؟

غمی:- ته غوږ کېده چه زه در ته دخپل خوب قیصه تېره کړم.

خوب مې ولېدو چه ته په یوه ځای کښې کالی وینځې اوزه چه دښکار لپاره هغه ځای ته تللی وم تږی کیږم او لتانه او به غواړم.

نده داچه لتاسره مینه پیدا کوم او په دې مینه کښې دخپل پلار سره په جنجال ککړیږم، راسره مخالفت کوی اوراته وائی چه ما له وړ کتو به د خپل تره لور درته په نامه کړې ده، مرې که چوې هماغه به کوې خوچه زه ډیر ورسره کلک شوم داسې سخته ځپېږه ئې په مخ را کړه چه له خوبه ئې را بیدار کړم او په چغه مې ته هم را بیداره شوې.

څه ئې کوی ګلالی! داډیره ښه ده چه په وینه مې دا کارونه نه دی لیدلی که نه زما خو، به زاره چاو دلې وه.

ګلالی :- حاجت خوب ته څه دی، دا کارونه په وینه هم په مونږ کښې رواج لری دغریبو مینه دې خلکو ته هیڅ اهمیت نه لری دپښتو او ځوانانو ژوندون خرابوی په کوچنیوالی کښې یو دبل په نامه کړی او له دې لارې په خپل اولاد ظلمونه او ستمونه کوی.

غمی :- ګلالی زه نه پوهیږم چه دا خلك ولې دومره ظالمان دی اوولې په خپل ګران اولاد نه رحمیږی، په وړ کوټوا لی کښې نجلیانې دیو او دبل په نامه کوی، ښه که چیرې غټې شی او یو په بل رضا ئیت ونه لری نو دا ښکاره ده چه په دې صورت کښې دښځې او میره دواړو ژوندون تریخ تیریږی بېله دې چه ژوندون ئې دمصیبت او کړاو سره لاس او ګریوان شی کومه بله نتیجه نه لری.

زه خو داوایم چه که پښتانه دخپل زوی اوخپلې لور دښه ژوندن سره مینه لری خو دا دې ومنی چه له دې ناوړه کاره دې لاس واخلی او دخپل اولاد ګران عمر دې نه خرابوی ځکه چه دا کار دځوانانو او پېغلو ځوانې آرزو ګانې خرابوی اووژ نی ئې.

داخولاڅه کوې په مونږ خلکو کښې یو بل بدمرض شته چه نا پوهانو په پښتو او پښتو نولی کښې ځای ور کړی دی او پښتو ورته وائی حال دا چه دا نا وړه کارد پښتو توهین او پښتو نولی پرې شرمیږی.

هغه داچه دوی کونډه په میراث وړی او خپل میراثی مال ئې ګڼی په زور او ظلم ئې دځلو پښتی ماشوم هلك ته دځې لپاره په نامه کوی

چه کونډه ئې له لاسه ونه وځی او بیا څوك ورته پېغور ،ورنه کړی او بې پښتو ئې ونه بولی.

دا کار زمونږ په پاك او مقدس دین کښې منع دی او الله پاك فرمائلی دی چه:-

ای مومنانو تاسې ښځې په زوره او په داسې ډول چه د ښځو خوښه او رضائیت په کښې نه وی په میراث مه وړئ .

مگر دهغو خرافاتو او موهوماتو له کبله چه د رسم او رواج ، دود او دستور په نامه زمونږ په ولسی خلکو کښې وجود لری او د دوی د ژوند انه اړ خونه ئې په دې کړ کېچنونا خوالیو لړلی دی دالله پاك له پورتنی امر څخه ځان نه خبروی او په ډېره بې رحمی دې ناوړه کار ته ملا تړی خپل اودبل ژوند په خطره کښې اچوی . او تش ددې لپاره چه بیا به تر بورراته پېغور کوی دلوی څښتن ښکلی حکم دپښو لاندې کوی .

خدای خو دې دا مهلك مرض چه زمونږ دقومی ژوندون اړخونه ئې په زهر ولړلی دی زمونږ نه لرې کړی .

او خالق دې زمونږ ولسی او قومی ژوندون له دې خطرناك مرض نه خلاص کړی .

دا چه داشیو نه ما په خوب کښې لیدلی دی ټول درست او حقیقت لری خو په دې خوښ یم چه دا کارونه په مانه دی شوی .

کلالی:- ستا خبرې خو ټولې ډېرې ښې وې خو دا را ته وا یه چه زمونږ قامی او ولسی ژوند به څنگه اصلاح شی او دا ناوړه رواج، دوداود ستور به څنگه له منځه لاړ شی او دا موهومات به په څه ډول ورك شی؟.

غمی : - ر ښتیا دې و وې او ښې نقطې ته دې ملتفت کړم .

دقومی او ولسی ژوند د اصلاح او د دې موهوماتو دور کېدلو لپاره غوره لاره علم او پوهه ده چه د ټولنې فرد، فرد د علم او عرفان سره مینه پیدا کړی او د ژوند نیمگړی اړخونه ئې د علم او عرفان په وسیله پوره او تکمیل شی.

ښځې او نر د نوې پیړۍ دا یجا باتو او عصری تعلیم سره سم ښو نځیو و کښې وروزل شی او په خرافاتو لړلې عقیدې یې د پوهې او علم په پا کو او بو کنگالې شی. د جهالت له ظلمت څخه د علم او پوهې په رڼائی د ژوند روښانه ډگر ته راووځی او، له دې لارې د درون بصیرت او بینا تمیز څښتنان شی . که په دې حال پاتې شو

او خپل حالت پخپله تبدیل نه کړو بـا ور
ولره چه دژوندون کاروان مودتباهی او هلاکت
په لورروان دی او موجودیت به موله منځه
ځی ځکه کوم قوم چه دژوند سره مینه لری
لوتش پیغور له وبرې په خپلو کښې سره اخته
وی موجودیت ئې ضرورله منځه تلونکی
دی . . . .

په دې کښې توری ټک ټک کوی رانوزی
او وائی چه:ـ
توری:ـ باداره دلمانځه ناوخته کیږی د اوداسه
لپاره مې او به راوړی دی.
غمی:ـ رښتیا دې ووې توز ګله کوردې ودان.
(داوائی اوراپورته کیږی پرده کش کیږی)
دوړام پای

له اوزبك سپېکز څخه،

دعزیزالله پښتو نمل ژباړه .

لومړی گام

دماښام دستوریو رڼایی خپره شوه

مااو راڼود یونیور سیټۍ په دریمه پوړه کښې یوڅه مصرو فیت درلود . راڼو ډیروخت په چرت کښې پاتې وه - اود کوم شی اند ېښنه ورسره وه .

دې به همېشه کوښښ کولوچه دخپل ټولګی وال رستم جان له لیدو څخه ډډه وکړی - خو کله به چه کامیابه نه شوه خپله شابه یې وروګر ځو له .

په دې وخت کښې راڼوبې له دې چه ما ته ووایی، خپل کتاب ټول کړ اوورو دکړ کی خواته وخوځیده زه هم ورجګه شوم اوتر څنګه یې ودرېدم - هغه نرمه اوصافه هواچه دپسرلی وزمې له ځان سره راوړه زمونږ په مخو نو کرار کرارلګېده .

سپوږمۍ له شنه اوځلانده اسمان څخه خپلې رو ښانه اوښکلی وړانګې د شنو جګو اوښایسته ونو په سر راځلولې اوهرې خواته یې خورې کړې وې .

دبرېښناوړانګو دونو په منځ کښې دفضا دستوریو په شان په باغ کښې سترګکو نه کول - اوچار چاپېر ښاریې هم رو ښا نه کړی و .

دموټر اومو زیك غږونو ، چه له لرې راتلل اوپه باغ کښې دخلکو خندا ، وانسان ته دهغوشنو اوسمسورو باغونو خاطره چه تل شنه وی اوخلك یې تل ځوانان اوژوندی وی په یاد راوړې .

راڼو دورسی پلې ته تکیه ووهله اومخامخ فاصلې ته یې کتل سمدلاسه یې باڼه ورپېدل اوپه ویرجن اوازسره یې وویل «خلك وایی چه رستم جان واده کوی» اوخپلې اوښکې چه پرمخ یې ږلی ږلی رابهېدې پاکې کړې. یوسوړ اوسیلې یې وکیښ اوداخبره یې زیاته کړه «آه څومره نیکمرغه نجلی» .

مادې ته هیڅ ځواب ورنه کړاو په داسې وخت کښې دداسې کلمو پیدا کول چه تسل پرې وشی ډیرسخت کاروی .له ډیره وخته

راپه دې خوار اڼوله رستم جان سره چه منځنۍ ونه اوتورې غټې نښتې وروځې یې درلودې ، مینه درلوده. هغه زموږ ډلې له زده کوونکو څخه یو پیاوړی زده کوونکی و ـ دځوانانو په را غونډ ولو اودلو بو په ترتیبولو کښې همیشه بریالی و .

په ټولو فعالیتونو اوساتیر یو کښې به یې پوره برخه اخیسته .

دتدریسی ښوونکوله خوابه یې هم پوره هر کلی کېده . درستم جان یو عجیب کارداو چه په خپله به یې نڅا اولوبې ترتیبولې ـ نڅا به یې هېڅکله یو ځای له نجونو سره نه کوله ـ او همیشه به ئې له هلکانو سره کوله . دی به هېڅکله یو ځای له نجونو سره سیمینا رونو ته تیا رنه و .

هغه وخت به چه زموږ ټولو ملګرو په ګډه سره کار کولو ـ دده سوال او ځواب به یواځې له هلکانو سره و .

کله به چه په یو ناڅاپی ډول سره له کومې نجلۍ سره مخامخ شو ـ نوده به هغې ته خپل لاس نه ور کولو ـ او په ـ اسی غږ سره به یې دروغبړ کلمې له خولې را وتلې چه ایله به اورېدلی کېدې .

زه د ښار په هغه ځای کښې اوسېدم چه درستم جان کورو او دده له کور نۍ سره مې پیژندګلوی درلوده. دده موراوده زړه پېغله خورمې پېژندله .

موریې یوه زړه ښځه وه چه ډیرې خبرې یې کولې او په هرچاپسې به یې چه زړه وغوښتل په خروارو خبرې کولې .

د کلی کور ښځو به ویل چه خوریې یوه بې ادبه او بې پردې نجلۍ ده چه د هیچا سر نه ساتی .

درستم جان کور نۍ په منفرد ډول ژوند کاوه کلی ورسره تګ اوراتګ نه درلود ـ او دی به هم ډیر لږ کورته راته او خپل ډیر وخت یې په یونیورسیټۍ کښې تېراوه موږ هیڅکله په رستم جان کښې له پېغلو سره دمینې او محبت نښه ونه لیده. دی ښه پوهېده چه راڼو له ده سره مینه لری ـ خوده به هغې ته هیڅ اعتنأ نه کوله. زموږ دګروپ ټول ملګری هم په دې کارښه پوهېدل. «چاتاته وویل؟ زه هم په همغه ځای کښې ژوند کوم ـ خومادواده په هکله هیڅ نه دی اوریدلی . »

راڼو پخوا دځان کنټرول کړی و. دې زه له لاسه ونیوم اوراته ویې ویل: « داخبره تسلی نه شی را کولی »

«زړه ستاخبرې نه منی ـ او عشق تر امر لاندې نه را ځی .»

دابېرته وروګرځېده. « که زه دا یووار ووینم ... هغه باید ډیره ښکلی او خو شبخته نجلی وی ... »

دې له ما نه وغوښتل« البته ـ تاسې هغوی ته نژدې ژوند کوئ ـ نومهربانی وکړه چه دا خبره سپینه کړئ .»

«ډیره ښه ده ـ زه به داخبره سپینه کړم.»

درخصتی په ورځ کله چه زه پوه شوم چه رستم جان په کور کښې نشته زه دهغه کورته ورغلم . دهغه مور په دالان کښې ناسته وه بړستن یې ګنډله ـ اوخوریې انګړ جارو کاوه .

څنګه یې چه په ماسترګې ولګېدې ـ نو په ډیرې بې میلی سره یې جاروو غور ځوله اوورو دهر کلی له پاره راوخوځېده .

زړې ابی هم خپلې اینکې له سترګو لرې کړې اوودریده . په اوږه یې وټپولم او راته ویې ویل «راځه لورې څنګه یی؟ »

ماورته وویل:«تشکر تاسې څنګه یی ؟»

دزړې ښځې بړستن خلاصه وه اویوې خواته یې ټیل وهله .

لوریې له ماد کښیناستو هیله کوله.ماوریښمنې بړستنې ته کتل چه زړې ښځې ګنډلې وه او پوښتنه مې ترې وکړه ـ «زه له تاسې سره یو تلوار ملګری وینم. آیا په دې ورځو کښې کوم وا ده مخکښې نه لرئ »

«هوخوږې ـ زه غواړم چه په خپل ژوند ځوی ته واده وکړم . »

ماورڅخه وپوښتل« نجلی یې څه ده او چېرته یې تعلیم کړی ؟ »

درستم جان خور کالی وغواړوه اوپه ځواب کښې یې راته وویل:« هغې تعلیم نه دی کړی یووخت یې له ماسره یوځای کار کولو او اوس په کور کښې په خولو چورمه ماتوی . »

زړې ښځې له خپلې لورڅخه دچای پیاله واخیسته اوپه ریږدید لی او از سره یې ماته وویل :

« زما ګران زوی ډېر هوښیار دی هغه زما دخوښې په خلاف کارنه کوی، ایامونږ به څه کړی وی که دی یوخوشې احمق وای لکه نن ورځ چه زموږ په شاوخوا ځایو کښې موجوددی ـ اوپخپله یې دواده انتخاب کولی. روزل شوی او تعلیم یافته جنکی په کور کښې نه اوسی اوماته یوه کارګره او مرستیاله په کار ده . دا په کور کښې هم هغو مره تعلیم زده کولی شی .

رستم جان زه خپل سر ته پریښوم او مادا نجلی پخپله خوښه کړې ده. دومره ښکلې ده لکه سروه .

رستم جان ماته شو ی او هغه دنا رینو په لاس روزل شوې او تعلیم یافته نجلۍ نه خوښوی».

زه دو مره په فکر کښې تللې وم چه سور چای می غړپ کړ او نژدې پرې سوې وم .

په هر حال دوی دواړو زما دغه حالت و نه لید زړې ښځې په ډېر افتخار سره وویل« هر څو که دا نجلۍ په ښوونځی کښې نه وه- خو په لیاقت کښې له هغو نجونو نه چه ښونځی یې ویلی دی یوه ذره هم کمه نه ده. کومې پېغلې تر اوسه پورې دخپل واده کرد ار برابر کړی او یا یې دوه غالۍ ډوله وریښمینې پردې چکن کړی دی؟ »

زه بې له کوم ځواب څخه ودریدم. سپین سرې ښځې چه له خپلې لمنې څخه یې دډوډۍ خڅوزی ټولول راته ویې ویل« تاسې غواړیء چه رستم جان ووینیء »

هغه به یقیناً دما ښام په وخت کښې کورته را شی . »

ماورته وویل « هوزمایو کتاب په کاردی.»

په بلهٔ ورځ ماراڼو ته ټوله قصه وکړه.

په اول کښې د ې زما په خبرو باور نه کاوه او په رډو او ترنده سترګویې راته کتل-خو وروسته یې یوڅه باور راغی او خپل سریې کښته وا چاوه او مخ یې په دواړو لاسو کښې و نیو او په چرت کښې لاړه .

دا یوڅو دقیقې په همد ې حال پاتې وه - او ماورته په ځیر ځیر سره کتل .

مافکرو کړ چه دغه دچپتیا وخت ددې لپاره کافی د ی چه یوه دا سې عشق ته چه کری کال یې دې ته تکلیف ور کاوه له زړه څخه وباسی .

لږ موده وروسته رستم جان وا ده و کړ- مو ږ ټولې نجونې یې وغوښتو خو یـوه هم ورنه غلو. آیا څنګه به موږ دیو داسې سړی ملګرې و ګڼلې شو چه هغه انسانی مقا م اوشان تـه دتوهین په سترګه ګو ری .

داوړی رخصتی خلاصه شوه او دزده کړې وخت بیا شروع شو . لازمه خوداوه چه باید زموږ هغه دتیر کال دوستی او ملګرتیا لاقوی شوې وای-ځکه چه موږ پوره پنځه کاله څنګ پر څنګ سره ناست وو. دغه کلو نه له تأثیرونو ډکو و . ایا موږ څنګه کولی شو چه هغه وختونه چه د مطالعې له پاره به د شنوو ښـو پرسر پرغوړ ېـدلې کـمـپـلـه نـاسـت وو .

دهمیش دپاره له یاده و باسو او یا هغه نڅا ګانې چه بې له کو مې ارا دې څخه به په یونا څاپی ډول سره په لیلیه کښې شرو ع شو ې یا هغه هیجانونه اوویر ې چه له از مو ینو مخکښې به په موږ راتلې، درستم جـا ن هـغه صاف

اودقیق ځوابونه چه خپلو ښوونکو ته به یې ورکول. نه شوای کولای چه مو ږد پخوا په شان خوښ کړی.

پروسږ کال دی زموږ دټولنې مشر ټا کل شوی و خود سږ کال په انتخا باتو کښې حتی کاندیدهم نشو. په دې کال زموږ ملګرو ډیرې ماښامی میلې ترتیب کړې وې.

هلکانو به له خپلو ځانو سره نجونې او نجونو به دغو میلو او پارټیو ته هلکان راو ستل ـ خو رستم جان به هره ورځ یو ازې راتلو.

خو بالاخره موږ دا کار نورونه شو زغملې او زموږ دپارټ ملګرو هغه ته وویل چه که پس له دې مو خپله ښځه له ځان سره را نه وستله نوستا راتګ هم هیڅ ضرور نه دی.

قمری دټو کو په ډول ورته وویل « همد غه وخت دی چه موږ ستا ښځه وګو رو»

درستم جان باڼه ورپېدل او کو ښښ یې کولو چه دې خبرې ته ځواب پیدا کړی« هغه به راشی خو... داسې ده چه ... هغه به داخواهش و نه لری. » دی پخپلو خبرو کښې مو سکی او ډیر ټکنی ودده له وینا څخه پوره څرګندېدله چه دی دروغ وایی.

مظفر دلاس اشاره ورته و کړه او ورته ویې ویل« رستم جانه! تاسې عجب څه وائیء، ستا سې ښځه دې په کور کښې وی ـ ته ډیر ښه وخت لرې دنوی کال مېلو ته ځه ـ سینما ته ځه ـ تیا ترته ځه ـ دعشق زمینه درته ښه برابره ده. ایا ستاسې ښځه شوق نه لری چه سینما ته ولاړه شی په خوله یو څه وایې او کوې بل څه همداسې نه ده »

رستم جان سره تاوشو خو هېڅ یې و نه ویل.

موږ فیصله و کړه چه د وی کال لومړی مېله د«هوری» په کور کښې جوړه کړو. زما او د راڼو وظیفه داوه چه د هوری مور فاطمې ترور سره، کومك و کړو او سباته د هغې کور ته ورغلو.

راڼو د آش له پاره اوړه لمدول ـ او نرمه نرمه ورسره زنګېده.

داور بل دوېښتو تارونه به یې پرمخ راخواره شول ـ او دا به یې لږه په غصه کړه ـ او دلاس په شا به یې بېرته واړول.

دې په ډېره خاموشی سره کار کاوه ـ او ماله دې وضیعت څخه دا قیاس کا وه چه دنو مړې افکار ډیر لرې خواره وو. درستم جان ښځه په همدې ماښام راتله، ښایی چه دراڼو افکار هم په همدې باره کښې خواره وو.

ایا کېدای شو چه دې به لاتر اوسه پورې دهغه سره عشق درلوده.

دمېلمنو راتګ دشپې په لس بجورا شروع

شو. هورې له کړ کۍ څخه دبا ندې کتل او ویې ویل «رستم جان راغی» او په منډه بهر ور ووته.

رستم جان راغی اوور پسې یې یوه جګه اوښکلې ښځه راروانه وه ـ دا د رستم جان مېرمن وه. رستم جان خپله مېرمن موږ ته راو نه پېژندله. دې له موږ ټولو سره بېل بېل رو غبړ و کړ او وروسته له روغبړ څخه ولاړه او د مظفر په خوا کښې کښیناستله. موږ ټولو په خپله خپل ځانو نه ورمعرفی کړل.

ماخواهش ورځینې و کړ چه رماله څنګه کښینی خودا الوتلې بڼه ناسته وه. ترډیره ځنډه پورې یې د جنکو په خبرو کښې برخه وانخیستله.

رستم جان خپل ځان دا سې نیو لو لکه چه یوازې راغلی وی او د (نوری) خواته یې یوه ذره توجه هم نه کوله. نوری نا ببره ودرېده او په خبرو یې شروع و کړه. کله چه ملګرو په جګ آواز سره وخندل نو دهغې په متفکره بڼه کښې لږ شانته مسکا ښکاره شوه.

«تاسی کارته ځیء» ما د دې له پاره پو ښتنه ترې و کړه چه دا په خبرو راولم.

«نه زه کا رته تلم. خوله هغې ورځې چه زه در ستم جان په نام شوم خسر ګنۍ مې له دې کاره منع کړم. اوس په کور کښې لږ شان د خو لو دچورمه کارۍ په فن کښې بلده شوې یم همدا کار کوم.»

«ایا دغه یو ډول کار تاسې په کور کښې نه خفه کوی راځه او موږ وګوره. یو نیو رسیټۍ ته راشه هلته ډیرې جنکۍ دی له هغوی سره وپېژنه. موږ اکثره وخت دغسې مېلې لرو. رستم جان راځی او ته نه راځې. شر مېږه مه همیشه را ځه» دا داسې ښکارېده چه څه ووایی او په مړو مړو سترګو یې راته کتل دې خپل ځان دډوډۍ پر سر د سر مېزی په څنډو کښې تاو اوه او راته ویی. ویل «ښه ـ تاسې پوهیږیء، . . . تا سې هر څه مطالعه کوی ء او زه . . . . زه څه شی یم همجنس له همجنس سره الوځی ـ دوی وا یی . . . . . زما په خیال باید یوه بې تعلیمه نجلۍ له یوه تعلیم یافته سره واده نه شی. زه په کور کښې خفه یم خو زه د تاسې مساوی نه یم» راڼو په اوږه لاسرورته کیښود او پوښتنه یې ترې و کړه «څوک داسې وایی».

نوری سمد لا سه ځوا ب ور نکړ. هغې دسترګو له کنجو راڼو ته و کتل او په شرمیدو نکی وضیعت سره ورته مسکۍ شوه «ماله خپل مېړه څخه پوښتنه و کړه چه ولې مانه در سر ه بیا یې هغه وایی چه ته د کور ښځه یې اوزه په د ې باره کښې هیڅ نه شم در ته ویلی. کله چه ما له خپل ځان سره فکر و کړ هغه رښتیا وایی.»

راڼو نوری ته دتعجب اوژور ترحم په سترگو وکتل . په دې وخت کښې دمېلې سرور زیات شو اوموزیك خپلې خو ند و رې نغمې پورته کړې اونڅا شروع شوه.

مظفر اوهورې په نڅا پیل و کړ اونو رو ملگرو اومېلمنویوه پراخه دایره نیو لې او چك چکونه یې کول. هیچا خپله خبره نه اور ېده راڼوله کوټې بهرووته اوډیر ځنډوشو چه بېرته راښکاره نه شوه زه هم ورپسې ورووتم .

دې مخامخ ددالان ماڼۍ ته ددالان دېوې دانې په کټاره باندې سینه اچولې ،ولاړه وه.واو ره څپرې څپرې اورېده اود دې په او ږو با ندې سپینه پرته وه .

هغې خپلې اوږ ې وښورو لې اوواوره یې وغورځوله. «راڼو دننه راځه... یخ به دې ووهی» داماته راوگرځېده .

«خو آه نوری...» ناڅاپه یې خپله ژبه ونیوه انسان به داسې فکر کاوه چه گو ند ې پـه ستونی کښې یې څه ونښته. او له خپلو خبر و څخه یې صرف نظرو کړ .

مانوره خپله خبره ونه شوه زغملی .

«داسې ښکاری چه تا دهغې نجلۍ په باره کښې فکر کاوه چه خو شبخته ده خو اوس معلومیږی چه خو شبخته نه ده . »

راڼو ځواب رانه کړ . وروسته دې ما ته مخامخ سترگې راواړولې اوپه کلکه سره یې وویل «موږیې کله پریږدوچه نوری په همدې حال پاتې شی. دالاتر اوسه پورې ډېر ه خامه ده . موږ هغه آزاده پریښودلی شو .

موږ دغه کار کولی شواو که نه؟موږیې باید و کولای شونور ی ډ ېره ښه چورمه کاره ده دا باید کارته ولاړه شی . موږ ټولې ملگرې باید دې کارته په کلکه سره اقد ام و کړو . زه اوس له رستم جان سره په د ې باره کښې په ښکاره او ډاگه مجادله کوم .

او س زما په زړه کښې دعشق او مینې یو بڅری هم نشته . یواځینی شی دادی چه زما په نوری زړه خوږیږی .»

ماپه ځواب کښې ورته وویل : «تاسې ډېر ښه وایيء مونږ باید خپل ټول ملگری د ې خبرې ته راوپاروو. که دوی هر ډول بانه مخ کښې کړی مونږ به یې نه منو - لږوروسته به ضرور رستم جان یونیورسیټی پریږدی . »

مونږ دافیصله و کړه اوبیرته کوټې ته راغلو.

دراڼو سترگې له ډیرې خوشالۍ نه ځلېدې ځکه چه دې یوداسې رمزته چه دایې ډیر وخت په حیرت کښې غور ځولې وه ځواب پیـد ا کړی و .

راڼو په ډیر زورسره په دواړو لاسو خلك
ته کړل او د دایرې مخ ته ورګډه شوه
لاس یې جګ کړاو له ګوتو نه یې یو تړك
وایست نو په نڅا یې شروع وکړه .

موږ ټولو د هغې په اوچتو او موزونو
حرکاتو او خوږ نازچه له بادامی سترګو یې
هرې خواته خپورو آفرینونه ویل . راڼو د نوری
په مخ کښې ودرېده او د نڅا غوښتنه یې ترې
وکړه .

نوری پاڅېده او له ډیره شرمه قرمزی شوه
او مونږ ټولو چك چکونه ورته کول .

دې چارچاپیره د نڅا دورې ته وکتل او بیا
کښینا سته او خپل مخ یې په دواړو لاسو پټ
کړو . خو راڼو په دواړو لاسو ونیوه او پورته
خواته یې راښکه .

نوری یو نظر د سترګو له کنجو خپل مېړه
ته وکتل . رستم جان له ډیره غمه سترګې
ښکته اچولې وې راڼو په ټوکو سره ورته
وویل «ته له خپله مېړه شرمیږی . پرېږده هغه
چه دومره څه خو تاته ووایې موږ به ورسره
ګورو . موږ ملګری یو اوس ناڅه مه ډاریږه»
موږ خپلو چك چکو ته دوام ورکړ .

نوری بیا خپل مېړه ته وکتل او سترګې یې
لاله شرمه سمې نه شوې غړولی .

ناڅا په هغه جدی شوه او یو مصمم نظر یې
راڼو ته وکړ چه هغې د تشویق لپاره چك چك
ورته کولو ـ او وروسته له هغې د یوې وحشی
غرڅنۍ په شان په دایره ګډه شوه او په ښکلی
او موزونه نڅا یې شروع وکړه .

په دې ډول نوری لومړی ګام د روښانه او
خوشال ژوند خواته واخیست .

﴿ پای ﴾

داشتراك بيه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکوته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوی کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب نمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

پته

شیر علی خان واټ نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

د تلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجاي د تلیفون لمبر ۲۱۲۹۱

KABUL

Monthly Journal of the

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy,

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه